دریم ټوک
3

# خوبونه په ورغوي

پریان
پیاله
پنبه
پرده
پپسي
تابوت
پاتزیب
پتنګ
پریان
پادري

خیام یوسفزی

خوبونه په ورغوي
خیام یوسفزی

د علم د منارې سره په ځنک کښې چې د حسن او اخلاقو مُجسمه اودرېږي، تخلیقي توان او د جذبې صداقت ئې په سر سیورے شي، د غړېدلو سترګو خوبونه د پټو سترګو د خوبونو سره د ژوند په ائینه خانه کښې مُقابل شي نو سرې ته خپل ټول خوبونه داسې ښکاره شي لکه د دهٔ په ورغوي کښې چې پراتهٔ وي.

خوبونه په ورغوي، دریم ستاسو په لاسو کښې دے، حېران یم چې زما پرونے بچے خیام یوسفزے د علم او رڼا مناره، د حسن او اخلاقو مجسمه، په تخلیقي توان مُزین او د جذبې په صداقت پوره مامور دنیا زما او زما د خاورې نمائنده او علامت ولې نهٔ ګڼي؟

خیام زهٔ یم، خیام زما د قام د پوهې علامت دے، خیام زما د خاورې دامن استازې دے، خیام زما د ژوند هنداره ده او کهٔ دنیا ماته د خیام په نظر اوګوري نو ما به د ځان سره د امن، خوشحالۍ او ترقۍ په دغه زغل کښې ځنګ په ځنګ اووینې.

اقبال شاکر
مرستیال لیکوال "مل" ملاکنډ
۲ اکتوبر ۲۰۱۹ بټخیله




الْحَمْدُ للهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَسْتَهْدِيهِ وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا مَنْ يَهْدِي اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ ○

خيام يوسفزے

www.pukhto.net

# حدیث نبوی ﷺ

إِذَا قَرُبَ الزَّمَانُ لَمْ تَكَدْ رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ تَكْذِبُ وَأَصْدَقُهُمْ رُؤْيَا أَصْدَقُهُمْ حَدِيثًا وَرُؤْيَا الْمُسْلِمِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ

When the end of times draw near, hardly any believer will see a false dream, and the ones who see the truest dreams will be the ones who are truest in speech. And the dream of the believer is one of the forty-six parts of prophecy.

**Sunan Ibn Majah 3917**

خیام یوسفزے

www.pukhto.net

# خوبونه

## په ورغوي

پښتو نېټ
PUKHTO.NET

### درېيم ټوک

(۳)



خيام يوسفزے

www.pukhto.net

ټول حقوق د لیکوال او پښتو ډاټ نیټ ویب پاڼې
په نوم محفوظ دي


- د کتاب نوم ..... خوبونه په ورغوي
- شاعر ............ خیام یوسفزے

مدیر اجرایي د پښتو ویب پاڼې 2007 تا حال

00966-567262472
00966-594250009
Khayaam.yousafzai@outlook.com
Facebook.com/khayaam.yousafzai
@KhayaamYosafzai

- مخ پاڼه ........ خیام یوسفزے
- کمپوزر ......... خیام یوسفزے
- د چاپ کال ..... 2020 جنوري - جمادي الاول 1441
- د چاپ شمېر ... پنځه سوه
- بیعه ............. 300 روپۍ
- خورؤنکي ....... همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره
- چاپځائې ........ اعراف پرینټرز محله جنګي پېښور

03125945568 / 091 2580006


خوبونه په ورغوي

خیام یوسفزے

# ټون

دَ

## ډاکټرایاسین یوسفزي

پهٔ نوم چې پهٔ
معاصر پښتو ادب کښې دَ نړیوال
شهرت اؤ مقبولیت
دَ سرپړې شخصیت دے۔

خوږوندپهٔ فصاعدي

خیام یوسفزے

www.pukhto.net

دَ دریم توک دا

# سوغات

دَ ملاکنډ دَ سردرو دغه ښاغلو ته چې
ادب روزنې ته یې خپلې
ځوانۍ لوګے کړې

**محمد اسلام ارماني**
**زرنوش شهاب**
**جمعه الرحمان افکار**
**اؤ**
**بخت روان عمر خېل**

خوږ ونږ نه ه مړغوږی

خیام یوسفزے

www.pukhto.net

# لړلیک


* ستاسو خوبونه او د خیام
تعبیرونه ........................ 12
( قیصر افریدے )
* د خوبونو د تعبیرونو مزل... 21
(فضل الرحمان شاهد)
* خوبونه په ورغوي ......... 33
(پیر قائیل بغرزے)
* خوبونه په ورغوي ......... 37
( طیب خان )
* مناجات او کفاره .......... 44
(خیام یوسفزے)

(پ)
د تورو د اوډنې په اعتبار

* پادري ........................ 49
* پاړسوب ...................... 50
* پاګل ........................... 51
* پالان ........................... 53
* پالش ، صیقل ................ 55
* پالک ............................ 56
* پانچې .......................... 57
* پانزېب ......................... 59
* پانې (دَ ونو ) ................ 61
* پانې ( دَ کتابونو ) .......... 62
* پتاسه ........................... 63
* پتنګ ........................... 64
* پتون ............................ 66
* پتیله ............................. 68
* پټ پټوني ...................... 69
* پټرول ........................... 71
* پټې ............................... 72
* پردې ............................. 75
* پرنجے ........................... 77
* پرهر ............................ 79
* پرانګ ........................... 81
* پرے ،رسی ..................... 82
* پسته .............................. 84
* پښتې ............................ 85
* پُل ................................ 87
* پُنبه ، مالوچ ................. 89
* پنجره ، قفس ................. 90
* پودینه ........................... 91
* پوزکے، پوزے ............. 92
* پوزه ............................ 94
* پېریان .......................... 95






www.pukhto.net

# لړلیک


* پېسې ........................ 99
* پیاز ........................ 101
* پیاله ........................ 102
* پیشو ........................ 104

## (ت)
د تورو د اوړنې پهٔ اعتبار

* تابوت ........................ 107
* تاج ........................ 110
* تاخ ........................ 111
* تارکول ........................ 112
* تال (د موسیقۍ) ........................ 113
* تاله ، جندره ........................ 115
* تانبه ، پیتل ........................ 117
* تبخے ، تبۍ ........................ 118
* تبر ........................ 119
* تبه ........................ 121
* تخت ........................ 122
* تخنول ، تخنول ........................ 123
* ترخ ........................ 124
* ترکاڼ ........................ 126
* تزکیه د نفس ........................ 128
* تسپې ........................ 132
* تعویز ........................ 133
* تکَبرُ (لوئي ، غرور) ........................ 136
* تکبیر ........................ 138
* تندر ........................ 139
* تنده ........................ 141
* تندے ........................ 142
* تنزرے ........................ 143
* تنور ........................ 145
* توبه ........................ 146
* توتان ........................ 147
* توتکرکي ........................ 148
* تورات ........................ 149
* تُوره ........................ 150
* تبل ........................ 152
* تیارهٔ ........................ 153

## (ټ)
د تورو د اوړنې پهٔ اعتبار

* ټاټ ، ترپال ........................ 156
* ټال ........................ 157
* ټپوس ........................ 158




www.pukhto.net

# لړلیک

* بتو ........................ 159
* ټماټر ........................ 161
* ټوپۍ ........................ 162
* ټوپونه ........................ 164
* ټوخ ........................ 165
* مننه ........................ 166
* سرچینې ........................ 167
* اشاریات ........................ 170
* ستاسو خوبونه ........................ 180





www.pukhto.net

# ستاسو خوبونه اؤ د خیام تعبیرونه

خوبونو ته پهٔ عربۍ کښې رؤیا ، انګرېزۍ کښې ډریمز (Dreams) اؤ پهٔ فارسۍ اؤ اردو کښې خواب وئیلے کېږي . د نړۍ پهٔ ژبو کښې به یؤه ژبه داسې نهٔ وي چې پهٔ هغې کښې د خوب د پاره نوم یا اصطلاح وضع شوې نهٔ وي، د نړۍ پهٔ ژبو کښې د دې وضعیت معنا دا ده چې خوبونه د نړېوالو پهٔ اذهانو اؤ تصوراتو کښې هم د یؤ حقیقت پهٔ توګه موجود دي ځکه چې کوم څیز د انسان پهٔ ذهني یا عملي سرشت کښې موجود نهٔ وي هغه زمونږ پهٔ ژبو کښې هم ځان له ځائې نهٔ لري ، همدغه وجه ده چې د انساني سرشت د عام وګړي نه واخله تر لویو لویو فلسفیانو، نفسیاتي ماهرانو اؤ پېغمبرانو پورې نامي ګرامي هستیو د خوبونو حقیقت نهٔ صرف منلے دے بلکې د هغې وکالت یې هم کړے دے.

مونږ ته یادول پکار دي چې پېغمبرِ اسلام د خوبونو دریمه برخه یعنې رؤیائې صادقه د وحې شپږ څلوېښتمه حصه منلې ده اؤ بیا د هغې د تشریح اؤ تاویلاتو نه دا نتیجه اخذ کړې شوې ده چې خوبونه نهٔ منل ګویا د خدائې د حقیقتونو اؤ قدرتونو نه انکار کول دي، دا هر څهٔ شاید پهٔ دې وجه هم جواز لري چې د نبوت پهٔ سلسلو کښې حضرت یوسف(ع) سره د خوبونو اؤ د هغې د تعبیرونو نسبت اؤ د فرعونِ مصر خوب





www.pukhto.net

ته تعبير ورکول اؤ بيا هغه رښتيا کېدل يا حضرت ابراهيم(ع) ته د خوب پهٔ ذريعه د خپل زوي حضرتِ اسماعيل(ع) د قربانۍ امر کېدل داسې واقعات دي چې لږ تر لږه د عقيدې د خاوندانو صدق پهٔ خوبونو اؤ د هغې پهٔ تعبيرونو پورې راتړي، يوازې دا نهٔ بلکې د خوبونو پهٔ حواله د نړۍ د نورو معتبرو شخصياتو ذکر هم مخې ته راځي مثلاً د"ابرام لنکن" پهٔ حقله وئيلے کېږي چې هغهٔ د خپلې وژنې نه وړاندې خپل ځان پهٔ کفن کښې نغاړلے ليدلے وهٔ اؤ دا خوب ئې يوه اوونۍ وروستو پهٔ واقعيت کښې رښتيا شو، همدغه رنګ "جان ډوني" خوب وهٔ ليدو چې فرانس کښې آتش فشاني شروع شوې ده او بيا څهٔ ورځې وروستو ئې هغه خوب پهٔ رښتياؤ بدل شو.

تر کومې چې د خوبونو د ليدلو تعلق دے نو ډېر لږ خلق داسې دي چې هغوي د خوبونو د حقيقت نه انکار کوي د نوع انساني غالب اکثريت خوبونه وينې هم اؤ د خوبونو پهٔ باره کښې مثبته رويّه هم لري، تر دې چې سائنس هم نولس سوه درې پنځوسم کښې د خوبونو سره د خپلې دلچسپۍ څرګندونه وکړه اؤ پهٔ انساني دماغ کښې ئې د هاغې برخې "برين سټيم" نشاندهي وکړه کومه چې د خوب ليدنې سره نيغ پهٔ نېغه تعلق لري ، پهٔ دې سربېره همدا اوس د جاپان ماهرينو د داسې ټېکنالوجۍ د تيارولو دعوه کړې ده چې د هغې پهٔ ذريعه د انسان سوچونه اؤخوبونه پهٔ کمپيوټر سکرين منعکس کېدے شي .

دا پهٔ دې معنا دي چې د خوبونو سهي علمي ماهيت کهٔ څهٔ هم تر دې دمه متعين شوے نهٔ دے خو دې طرف ته يوه اجتماعي هڅه اروم‌رو





www.pukhto.net

روانه ده اؤ مونږ ته پۀ دې حواله پُر امیده وسېدل پکار دي، زۀ داسې ځکه هم وایم چې د یوې موضوع یا یوې مسلې د مېنځ نه پۀ څومره اندازه تضاد ختمېږي ، د اتحاد امکانات زیات روښانه کېږي ځکه دې ته باید محض اتفاق وۀ نۀ وایو چې تر پرونه یوازې اسلامي معبرینو د خوبونو د لسو اقسامو پېشګوئي کوله مګر نن سائنس هم پۀ خپلو الفاظو کښې د خوبونو لس اقسام بیان کړل.

کۀ څۀ هم د خوبونو پۀ تعبیرونو کښې به بیا هم د اختلاف کېفیت خامخا رامنځه کېږي، د هغې وجه دا کېدے شي چې د هر قام اؤ هرې تولنې خلق د خپل خپل معرفت پۀ رعایت سره خوبونه ویني اؤ بیا د خپلو خپلو ثقافتونو اؤ روایتونو پۀ رڼا کښې د هغې تعبیرونه اوباسي، د خوبونو د لیدو باره کښې یؤ اروا پوه پېټرېکیا ګېرفیلډ یوه ډېره د کار خبره دا کړې ده چې مونږ د خوب پۀ مهال یوازې هغۀ خلق، هغۀ مقامات او هغۀ مخونه وینو کوم چې مونږ د ویښې پۀ مهال لیدلي اؤ پېژندلي وي، د دې یؤ مطلب داشو چې د خوبونو تعلق د مانوسو اؤ معروفو څیزونو اؤ مخونو سره وي اؤ همدغه مخونه بیا زمونږ د پاره زمونږ د مخصوصو قامي اؤ شخصي غوښتنو پۀ رڼا کښې د ښۀ اؤ بد شګون مصداق وي، دې ضمن کښې د علماء اسلام تعبیرونه بیخي پۀ نیغ سمت کښې مزل کوي د هغوي پۀ نزد زمونږ د عملي ژوند پۀ شان پۀ خوبونو کښې هم مضر عناصر د ضرر مصداق دي برعکس مفید مخونه د افادې اؤ ابادۍ علامتونه وي تر دې چې کۀ پۀ خوب کښې د لیدل کېدونکي سړي نوم سلیم یا سالم یا اسلام وۀ نو هغه پۀ سلامتیا تعبیر کولے شي.

کۀ غور وکړو نو زمونږ د پښتنو خوبونه تر دې حده خو د نړۍ د نورو اولسونو د خوبونو نه مختلف نۀ دي چې مونږ هم خپل خوبونه د لیدلو کتلو مخونو اؤ پېژندلیو کارونو پۀ وساطت وینو، البته پۀ تعبیرونو کښې ئې بیا متضاد تصور مخې ته راځي دلته پۀ غټه کښې سړے د زبرګۍ اؤ تکریم مګر ښځه د فساد اؤ بیمارۍ علامه ګڼلے کېږي همدغه شان جنج اؤ سرې ښځینه جامې پۀ غم اؤ ابتلا تعبیر کولے شي، خړ رنګ مار د ثروتمندۍ اؤ تور مار د غربت علامت ګڼلے شي، د خوبونو اؤ د هغې د تعبیرونو باره کښې پۀ پښتنو کښې یوه رایه دا هم ده چې د دې تعبیر پۀ دریم ځائې کښې ځان ښکاره کوي یعني ضروري نۀ ده چې هر خوب دې د خوب لیدونکي پۀ ذات یا خاندان کښې تعبیر وه لري بلکې بعضې خوبونه پۀ لرې رشته داریو کښې هم خپل تعبیر راښکاره کوي.

کۀ وګورو نو د خوبونو پۀ باره کښې د نړۍ پۀ نورو ژبو کښې خاطر خواه لټرېچر مرتب شوے دے البته پښتو ژبه کښې څنګه چې د علم پۀ نورو مېدانونو اؤ د هغې پۀ څانګو کښې تشنګي پۀ شدت سره محسوسېږي دغه شان د خوبونو اؤ د هغې د تعبیرونو پۀ لړ کښې هم د سینه پۀ سینه رانقل کېدونکیو روایاتو نه د استفادې یۀ زباني اؤ کلامي صورت خو شته مګر تحریري شکل ئې متعین شوے نۀ دے یا خال خال مرتب شوے دے.

د خیام یوسفزي استعداد د تحسین وړ دے چې د دې خلا د ډکولو لۀ پاره ئې د یوې داسې سلسلې تابیا کړې ده چې تر دې دمه ئې دوه ټوکونه منظرِ عام ته راغلي دي، دریم تیار دے اؤ دا سلسله به لا مخ په



www.pukhto.net

وړاندې روانه وي. ګران خيام کهٔ چرې دا ذهني مشقت پهٔ عام نثري اؤ بيانيه پيرايه کښې ترسره کولے نو مونږ ورته سهل وئيلے شول خو مونږ ګورو چې هغهٔ د دې مهم اؤ مقصدي کار د پاره د منظومې پيرائې انتخاب کړے دے، پهٔ منظومه پيرايه کښې يؤ مقصد ،يؤ مفهوم ذهن نشين کول اؤ پهٔ حافظه کښې ځايول د قاري د پاره خو يقيناً د اسانتيا دليل وي خو د هغې د پاره ليکونکے د څومره ذهني اؤ روحي ستړيا نه راتيرېږي دا خبره د محسوسولو سره تعلق لري.

زهٔ چې د خيام پهٔ دې منظوم زيار غور کوم نو ماته پهٔ يؤ حقله د شعري تخليق نه زيات پرمشقت کار ښکاري ځکه چې پهٔ شعري تخليق کښې مواد اؤ معنويت پهٔ طبيعي انداز خپلو کښې پهٔ يوه سانچه کښې راغونډيږي مګر دلته اول مواد مطالعه شوي دي بيا د هغې د پاره د سانچې شعوري انتخاب شوے اؤ بيا پهٔ هغه سانچه کښې منظم کړے شوي دي ظاهره ده دا دومره کار هغومره د يؤ وخت اؤ يوې لمحې کار نهٔ دے ، پهٔ څومره وخت کښې چې شعر تخليق کيږي همدغه شان دې ته مونږ د شعر پهٔ شان د طبعې يا د طبعي موزونيت نامه هم نهٔ شو ورکولے ځکه چې طبع د يؤ چا ذات اؤ ذاتي جذباتو اؤ احساساتو ته اشاره کوي مګر دلته مقصد پيشِ نظر دے اؤ بيا مقصد هم د اجتماعي نوعيت دے، پهٔ دې اساس دا د خيام د خالص شعور اؤ شعوري عزم نه راتير شوے عمل دے اؤ پهٔ هم دې اساس زهٔ د خيام د دې منظوم زيار اؤ د شعري تخليق پهٔ منځ کښې د امتياز کرښه راښکل هم ضروري ګڼم يعني دا به پهٔ دې وجه هم ضروري وي چې پهٔ مستقبل کښې کهٔ چا د



www.pukhto.net

خیام پهٔ زېرِ نظر زیار د شعر د زاویې نه د څهٔ وئیلو هڅه وکړه نو ماته د منطقي ابهام د یؤ سنګین شکل د رونماکېدو احتمال پهٔ نظر راځي چې د هغې لهٔ کبله به نهٔ د شعر اؤ نهٔ د خیام د منظوماتو منفرد حېثیت راڅرګند شي . کهٔ غور وکړو نو د خیام دا سلسله د خوبونو اؤ د هغې د تعبیرونو پهٔ باره کښې پهٔ معلوماتو اډانه ده یعنې اختراعي بنیاد نهٔ لري پهٔ دې لحاظ دا د علمیت پهٔ زمره کښې خو راځي خو سوال دا دے چې علمیّت کهٔ منظوم کړلے شي نو هغه د شعریت غوښتنې هم پوره کولے شي؟ د دې سوال دویم شکل دا راجوړېږي چې آیا د شعریت د پاره یوازې منظوم کېدل شرط دي؟؟ ظاهره ده زهٔ دا سوال د خیام سره سره د ځینو نورو کتابونو پهٔ باره کښې هم راؤچتوم چې پهٔ هغې کښې مخزن، رشید البیان اؤ د خوشحال بابا بازنامه اؤ فضل نامه هم شامله ده، دې ضمن کښې زما فېصله د محترم درویش دراني د هاغې فېصلې مصداق ده پهٔ کومه کښې چې هغهٔ مخزن د فورم لهٔ مخې نظم منلے مګر د محتوا یا منځپانګې پهٔ اعتبار ئې د شعر لهٔ دایرې څخه ویستلے دے.(کره کتنه اؤ د هغې زغمل ص ۱۲۷)

زهٔ دا ګڼم چې علمیّت او شعریّت دوه جدا ماهیتونه دي چې یؤ د علم او بل د هنر مترادف دے، پهٔ هنر کښې شعریّت، افسانویّت او تکلیّت وغېره ټول د یو وصف بیل بیل نومونه دي چې پهٔ عمومي مفهوم کښې د تخلیق یا تخلیقیت پهٔ نوم مشترک نوم ته راغونډېږي، تخلیقیّت ذاتي وي د دې برعکس علمیّت غېر ذاتي یا اجتماعي ګڼل پکار دي، پهٔ دې تناظر کښې چې د خیام صېب دغه کاوش ته ځیر شو نو باید د څهٔ مصلحت نه پرته ووایو چې د خیام دا کاوش منظوم علمیّت خو دے


www.pukhto.net

خو آیا شعریت یا شاعري ئې ګڼلے شو؟ دا سوال خپل اهمیّت هغه وخت نور واضحه کوي کله چې مونږ د خیام په دې کتاب سوال راپورته کړو چې په دې کتاب کښې مواد ته فلانے ترتیب ولې ورکړے شوے دے یاد فلانۍ خبرې فلانے تعبیر ولې ویستلے شوے دے؟ د دې برعکس فلانے ترتیب اؤ تعبیرونه ولې نظر انداز کړے شوي دي؟ د دې په جواب کښې خیام مونږ ته وئیلے شي چې دا مواد زما ذاتي مواد نه دي اؤ نه د دې پیشکش د شاعرۍ مصداق دے چې زه پکښې له ځانه تصرف وکړم، دا خو د نومیالیو اسلامي مفکرینو، محدثینو اؤ معبرینو د اجتهاد هغه علمي اؤ معلوماتي نمونې دي چې د مسخ کولو سره ئې د ټول علمي سرشت عزت مسخ کیږي ځکه زه ګڼم چې د خیام دې زیار ته د علمیّت د زاویې نه زیات مګر د هنر د زاویې نه کم کتل پکار دي په دې اعتبار زیرِ نظر کتاب په خپل ځان کښې زمونږ د پاره د تفریح سامان کم مګر د تفهیم ذخیره زیاته لري، اګر که د نظمونو تمهیدونه ئې د خیام ذاتي اظهارِ ذات ته هم اشاره کوي خو په هغې راخوره سنجیدګي ئې بیا هم د علمي نوعیّت وي، بیا په علمي تناظر کښې هم د تعبیرونو هغه برخه چې د خیام خپل اجتهاد ترې څرګندیږي باید بې څیړنې پاتې نه شي خو دې ضمن کښې ماته خپله نااهلي هم بیا بیا مخې ته ودریږي ، یوازې دومره طالب علمانه عرض به وکړم چې د دستور له مخې اول خوبونه په واقعیت کښې لیدل کیږي د هغې تعبیر بیا د معنوي مناسبتونو اؤ مشابهتونو د طرزکار لاندې مرتب کیږي، د پیر بابا زیارت اؤ د پټاسو په نسبت د خیام خپل اجتهادي تعبیر زمونږ په ذهن کښې دا سوال راپورته کوي چې آیا دلته خوب په واقعیت کښې

لیدل شوے دے؟ کهٔ نهٔ مصنف د خپل اجتهاد د پاره د یؤ جواز پهٔ توګه دلته خوب اختراع کړے دے اوس بنیادي سوال دا دے چې د واقعیت پهٔ مقابله کښې دلته اختراع څومره جواز لري؟

بیا دا هم چې پهٔ دې تعبیر کښې د مناسبت اؤ مشابهت نه څومره استفاده شوې ده؟ دا تفسیر تر هر چا زیات خپله خیام بیانولے شي ځکه چې هغه د قرآن، احادیث اؤ فقې د ټولو شرایطو نه برخه مند دے اؤ د اجتهاد اهلیّت هم د دغسې خلقو خاصه وي، کهٔ څهٔ هم اجتهاد د انساني ژوند پهٔ نورو مېدانونو کښې هم پهٔ بدلو نومونو رسمیّت لري مثلاً یؤ انجنئیر د کار پهٔ مېدان کښې د بعضې غېر موافق قانوني حالاتو پېشِ نظر د خپلې اجتهادي تجربې د ازمائیلو اختیار لري خو دا اختیار هم هغهٔ ته د هندسي اصولو نه د مناسب واقفیّت پهٔ بنیاد حاصل وي ځکه زهٔ وایم چې خیام پهٔ خپل ځان کښې بهرحال د اجتهاد اصولي اهلیّت لري.

پهٔ پورتنو کرښو کښې د خیام د زېرِ نظر زیار باره کښې د تفهیم اؤ تفریح خبره شوې ده هاغه خبره زهٔ معمولي شان نوره بشپړ کول اؤ بیا خپله لیکنه ختمول غواړم چې د تفریح پهٔ حواله د دې منظوماتو آهنګ اؤ د انداز بیان لطافت د یادولو استحقاق لري ځکه چې د خیام صېب د اندازِ بیان کلاسیکیّت ماته د پښتو شعر ټول کلاسیک مخې ته ودروي بلکې د هغهٔ اندازِ بیان ته به محض کلاسیکي وئیل هم زیاتے وي




www.pukhto.net

زما تر پامه دې ته د کلاسیک یو توسیعي شکل وئیل به زیات موزون وي ځکه چې کوم بیانیه نفاست د خیام پهٔ اندازِ تحریر کښې تر نظره کېږي دا نفاست بیا پهٔ کلاسیک کښې د بل یؤ شاعر سره نهٔ لیدل کېږي.

**قیصّر اپریدے**

دسمبر ۲۰۱۹ (کراچی)



www.pukhto.net

# د خوبونو د تعبیرونو مزل

د پښتو مئینان د پښتو ادب جولۍ ته رنګا رنګ ملغلرې پېرزو کوي. د نثر اؤ شعر کتابونه پۀ ګڼ شمېر سره د چاپ پۀ کالو ښائسته کوي اؤ د پښتو ژبې مئینانو لاسونو ته ئې رسوي. څۀ کتابونه روایتــــي بڼه لري ولې ځېنې د عالمي ادب سره څنګ پۀ څنګ د نــوي دور د غوښتنو سره پۀ پوره ډول سمے خوري چې د نړۍ د مترقــــي ژبو سره د سیالۍ جوګه وي.

د شعر ساتندویـو زیاتره د غزل لمن نیـولې ده چې ډېره خوږۀ اؤ پۀ زړۀ پورې ده، د شعر مئینان ئې ښۀ خوښـوي. دغه مئینان د پښتو شعر د سیالۍ پۀ بلۍ لیدل غواړي ، نو ځکه د حاضر عصر د پښتو شاعر له پکار دي ، چې پۀ شعر کښې نـوې نـوې تجربـې وُکړي، ځانګړې موضوعات مخې ته راوړي اؤ بیا ئې د جدت پۀ کالو ښائسته کړي چې د پښتو ژبې د مئینانو زړۀ پرې راغونډ شي.

دا ډول امیدونه مونږ د نوي کهول د ښاغلي شاعرانو پورې تړلي دي چې پښتو ژبه سیالو سره سیاله کړي اؤ د نړۍ د مترقي ژبو پۀ صف کښې ئې وُدروي. دا هر څۀ هله کېدې شي چې زمونږ شاعر د

خیام یوسفزے



www.pukhto.net

مترقــي ژبــو لوسته وکړي اؤ هغه علمونه پښتو ته راوړي اؤ د دې خپلې ژبې علمي اؤ ادبي پنګه نوره هم درنهٔ اؤ خوږهٔ شي.

د پښتو ژبې د نوي کهول نمائنده شاعر ښاغلي خيام يوسفزي هم دغه علمي لاره نيولې ده اؤ ښهٔ پهٔ نره ئې پهٔ خپل خاص اسلوب اؤ ځانګړي رنګ کښې د پښتو شعري ادب ته ښهٔ ډېرې بخښنې وکړې اؤ لا د خدمت دا سفر ئې جاري دے اؤ د پښتـو ادب مئينان ترې ډېر اميدونه لري. دې ښاغلي د علم اؤ دانش داسې لاره خپله کړې ده چې د پښتو ژبې اؤ ادب د پاره بيخي نوي ده. د دوئ نه وړاندې هيچا هم پهٔ دې لاره تګ نهٔ دې کړے اؤ دا لاره د خوبونو لاره ده چې د هغې لاره د تعبيرونو منزل ته رسي.

ښاغلے خيام يوسفزے دا وخت ښهٔ لوسته کوي. د نړۍ د مترقي ژبو د ادب لوسته اؤ پهٔ خصوصي توګه د عربۍ ژبې د کتابونو ښهٔ ژوره مطالعه لري اؤ د دغې مطالعې پهٔ رڼا کښې دوئ د خوبونو اؤ د هغې د تعبيرونو د علم زياتره پنګه د پښتو جولۍ ته سپاري. دا پنګه زمونږ د دې خوږې پښتو د پاره نوي هم ده اؤ اهمه هم.

د پښتو پهٔ کلاسيکي شاعرۍ کښې د خوبونو پهٔ باره څهٔ نمونې ضرور شته ولې پهٔ دې علمي موضوع چې څومره کار اؤ زيار زمونږ دې ښاغلي شاعر وکړو اؤ لا کوي نو هغه د ډېرې ستائينې اؤ ډاډګيرنې وړ دے.




www.pukhto.net

د خوبونو د حقیقت په حقله په تفسیر مظهري کښې حضرت قاضي ثناءالله فرمائي "انسان چې څهٔ وخت د خواب یا د بې هوشئ په سبب د بدن د ظاهري تدبیر نه فارغ شي نو هغه ته د هغه د قوّتِ متخّیله په لاره څهٔ صورتونه ښکاره کېږي چې دغې ته خواب وئیلے شي".

د احادیثو په رڼا کښې زیاتره عالمانو د خواب درې قسمونه بیان کړي دي. امام جعفر صادق فرمائي خوابونه په درې قسمه دي اول حکم، دویم متشابه اؤ دریم اضغاثُ احلام.

حضرت امام ابراهیم کرماني فرمائي د خواب یؤ قسم هغه دے چې د الله د طرفه نه خپلو نېکو بندګانو ته د بشارت په توګه وي. دویم د شېطاني وسوسو اؤ خیالاتو نه ډک خوبونه دي چې د انسان په ذهن چې کوم خیالات اؤ واقعات خوارهٔ وي چې د هغه د خوښې اؤ مزاج سره سم وي. د الله د طرف نه چې نېکوکار بندیان د بشارت په توګه کوم خوبونهویني نو عالمان هغه د الله د طرف نه الهام ګڼي. خوږ نبيؐ دغه رېښتوني خوبونو ته د نبوت شپږ څلوېښتمه برخه وائي اؤ هغه داسې چې د خوږ نبيؐ د پېغمبرۍ ټوله زمانه درې شلې کاله وه. دې کښې وړومبۍ شپږ میاشتې وحي د رېښتوني خوبونو په ذریعه نازلې شوې وے. هم په دې حساب شپږ میاشتې د درې شلې کالو شپږ څلوېښتمه حصه جوړېږي.

دا رېښتوني خوبونه صحیح اؤ حق دي، دا د الله د طرف نه یؤ قسم



www.pukhto.net

لهٔ الهام وي اؤ هم د دې پهٔ ذريعه هغه خپل بنده خبرداروي يا زېرے ورکوي. الله د خپلو غيبو د خزانو نه بعضې څېزونه د خپل بنده پهٔ زړهٔ اؤ ذهن کښې اچوي اؤ د هغې پهٔ برکت هغهٔ ته انعامات ورکوي اؤ خوشحالی وربخښي. د خوږ نبي (ص) فرمان دے "د مومن خواب يؤ کلام دے د کوم پهٔ ذريعه چې هغهٔ د خپل رب سره د خبرو کولو شرف حاصلوي".

د صوفيائې کرامو د بيان مطابق، دې دنيا کښې چې څومره څيزونه پهٔ وجود کښې راتلونکي وي. د دوئې د وجود ته د راتلو نه وړاندې هغهٔ ټول څيزونه پهٔ يو خاص شکل کښې پهٔ عالمِ مثال کښې موجود وي. پهٔ عالمِ مثال کښې چې څنګه د جواهرو اؤ ثابت شوي حقائقو صورتونه اؤ شکلونه وي هم هغهٔ رنګ د معاني اؤ اغراضو هم خاص شکلونه وي. خواب کښې انساني نفس د بدن د ظاهري تدبير نه فارغ شي نو بعضې وخت دغه تعلق د عالم مثال سره جوړ شي اؤ هلته چې کوم شکلونه اؤ صورتونه وي نو هغه ټول هغهٔ ته پهٔ دغه وخت پهٔ نظر راشي اؤ هم دغه رنګ هغهٔ هر څهٔ خواب کښې اووينې.

د پېغمبرانو خوابونه ټول هم پهٔ دې ډول وه ځکه خو ئې د رښتونې خوابونو درجه لرله. د عامو مسلمانانو پهٔ خوابونو کښې هر رنګه احتمال کېدې شي. بعضې وخت د هغوئې پهٔ خوبونو کښې د اصل اؤ حقيقت سره سره څهٔ داسې تخيّلات باطله هم شامل شي اؤ يا د دغې




www.pukhto.net

سره د نفساني اؤ طبعي صورتونو اميزش هم کېدې شي ،بعضې وخت دغه ظلمت اؤ کدورت پهٔ اصل اؤ صحيح خواب حاوي کېدې هم شي هم پهٔ دې سبب د دوئې پهٔ خوابونو کښې فرق وي.

د خوابونو د دوهٔ نورو قسمونو پهٔ باره کښې پوهان وائي "کله چې انسان د بېدارۍ پهٔ حالت کښې کوم واقعات اؤ صورتونه ويني اؤ ګوري نو هم هغهٔ انسان ته پهٔ خواب کښې مخې ته راځي ، دې قسم خواب ته حديث نفس وائي".

د شېطاني خوابونو پهٔ باره کښې وائي: شېطان څهٔ صورتونه اؤ واقعات د انسان پهٔ ذهن کښې اچوي اؤ دغه ټول هغهٔ ته پهٔ خوابونو کښې مخې ته راځي. دا واقعات اؤ صورتونه کله کله خوشحالؤنکي وي اؤ کله کله وېرؤنکي وي ، د خواب دې قسم ته تسويل شېطاني وائي. دې قسم خوابونو کښې شېطان انسان خفه کول اؤ پهٔ کړاؤ کښې اخته کؤل غواړي ، دې ډول خوابونو کښې شېطان پهٔ هر شکل اؤ صورت سره راتلے شي ولې د پېغمبرانو ، فرښتو ، آسمان نمر ، سپوږمۍ اؤ ستورو پهٔ شکل اؤ صورت نشي راتللے.

د يو حديث پاک الفاظ دي "چا چې زهٔ پهٔ خواب کښې ؤليدم هغهٔ في الواقع زهٔ ؤليدم" يعنې د هغهٔ دا خواب رېښونې دے ځکه چې د شېطان دا مجال نشته چې هغهٔ چاته هم زما پهٔ شکل راشي.





www.pukhto.net

حضرت عليؓ فرمائي چې څوک خواب اووينې نو د هغې په تعبير ځان خبرول واجب دي ، که خواب ښهٔ وي نو انسان خوشحالي بيا مومي اؤ که بد وي نو د هغې د شر نه دې ځان د دُعا ، صدقې اؤ عبادت په ذريعه محفوظ ؤساتي.

امام محمد بن سيرينؒ فرمائي ، د شپې په وړومبۍ حصه کښې د ليدلي خواب تعبير په پنځه کالو کښې څرګندېږي ، د نيمې شپې د خواب تعبير په پېنځه مياشتو کښې ظاهرېږي اؤ که څوک د سحر په وخت خواب اووينې نو د هغې تعبير په لسو ورځو کښې ښکاره شي يعنې کوم خواب چې څومره ورځې ته نېزدې وي هغه خواب دغه هومره صحيح وي اؤ نتيجه ئې زر ظاهرېږي. خوږ نبيﷺ فرمائي "ښهٔ خواب د الله د طرفه وي اؤ بد خواب د شېطان د طرف نه ، که څوک ښهٔ خواب اووينې نو هغه دې هغهٔ چاته بيان کړي چې د چا سره محبت اؤ عقيدت لري اؤ که خواب بد وي نو د دې د شر اؤ د شېطان د فتنې نه دې پناه ؤغواړي اؤ دا هم مناسب ده چې د شېطان د شړلو په غرض دې ګس طرف ته درې ځلې لاړې ؤتوکي اؤ دا بد خواب دې چاته نهٔ بيانوي اؤ دا شان دا خواب به هغهٔ ته هيڅ ضرر وهٔ نهٔ رسوي"

د پېغمبرانو خوابونه رېښتوني وو. دې خوابونو به د وحي درجه لرله، حضرت ابراهيمؑ ته د حضرت اسماعيلؑ د قربانۍ حکم هم په خواب کښې شوے وهٔ. دغه رنګ حضرت يوسفؑ ته هم د خواب په ذريعه



www.pukhto.net

د پېغمبرۍ بشارت شوے وهٔ چې یوولس ستوري ، نمر اؤ سپوږمۍ ورته سجده کوي. "معارف القرآن" د دغه زمانې د یؤ بل تاریخي خواب ذکر کړې دے د حضرت یوسف ع د رونړو سره د لېږلو نه مخکښې حضرت یعقوب ع خواب لېدلې وهٔ چې هغوئ د غر د پاسه ولاړ دي اؤ حضرت یوسف ع د غرهٔ پهٔ وېخ کښې دے چې لسو لېوانو پرې حمله ؤکړه اؤ بیا د زمکې دننه پټ شو.

خوږ نبي(ص) هم د جنګ اُحد پهٔ وخت کښې یؤ خواب لېدلے وهٔ فرمائي چې ما خواب کښې ؤلېدل چې زما توره "ذوالفقار" ماته شوه اؤ وینم چې غواګانې حلالېږي. د دې خواب اشاره د حضرت حمزه (رض) اؤ نورو صحابه کرامو شهادت طرف ته وه.

اوس به راشو د خوابونو د تعبیرونو علم طرف ته، د خوابونو د تعبیر علم الله تعالی پهٔ وړومبي ځل حضرت یوسف ع ته ورکړو. هغوئ جېل کښې دوهٔ کسانو ته د هغوئ د خوابونو تعبیرونه ؤښودل اؤ هغوئ ته ئې دا هم وئیلي وو چې ستاسو د خوابونو تعبیرونه محض پهٔ اټکل نهٔ وي بلکې دا یوه خدائي فېصله ده. د هغې نه وروسته ئې بیا د مصر بادشاه ته د هغهٔ د خواب تعبیر ؤښودلو. د هغې پهٔ باره حضرت قتاده (رح) فرمائي حضرت یوسف ع ته الله تعالی د وحي پهٔ ذریعه د شاه مصر د خواب تعبیر ښودلې وهٔ. د قرآن عظیم الشان نه چې کوم خوبونه ثابت دي پهٔ هغې کښې د حضرت یوسف ع د خوبونو اؤ د هغې د تعبیرونو حال ښهٔ پهٔ تفصیل سره بیان شوي دي.

علمُ التعبیر یؤ ډېر فراخه اؤ ژور علم دے. پوهانو د دې علم د پوهې د پاره د څو نورو علمونو زده کړه ضروري ګڼلې ده. پۀ دغه علمونو د قران د تفسیر علم، د احادیثو د پوهې علم ، د ضربُ الامثال پوهه ، علم اشتقاق ، د لغاتو علم ، د الفاظو متداولو علم اؤ دغه شان د څو نورو علمونو زده کړه ډېره ضروري ده چې د تعبیر علم د تعبیر کؤنکي نه د دې علمونو د پوهې ، د باطني پاکۍ اؤ بصیرت غوښتنه هم کوي ځکه چې بعضې خوبونه پۀ یؤ ډول وي ولې مُعبر د خپل علمي بصیرت اؤ پوهې پۀ برکت د هغې تعبیرونه بېلا بیل بیانوي ځکه چې د خوبونو تعبیرونه د موسمونو ، وختونو، مزاجونو، شخصي، خصلتونو اؤ عادتونو پۀ بنیاد بېلا بیل کېدې شي.

د اسلامي تاریخ د ګڼو شخصیاتو نامې د خوابونو د تعبیرونو پۀ حواله ډېرې یادولې شي اؤ هغوئ د دې علم ماهران ګڼل کېږي چې حضرت دانیال(ع)، امام جعفر صادق(رض)، امام محمد ابن سیرینؒ(رح)، امام جابر مغربي(رح)، امام ابراهیم کرماني(رح) اؤ امام اسماعیل بن اشعث(رح) زیات مشهور دي.

حضرت دانیال(ع) فرمائي د اتوار د ورځې خواب نېک وي ، د دې تعلق د نمر سره وي. د ګل د ورځې د خواب تعلق د سپوږمۍ سره وي، د دې ورځې خواب هم ښۀ وي . حضرت امام جعفر صادق(رض) فرمائي څلورو کسانو ته د خواب بیانول نۀ دي پکار یؤ هغۀ چاته چې د شریعت پابند نۀ وي . نا پوهه ښځې ته هم د خواب بیانول نۀ دي پکار ځکه چې



www.pukhto.net

ښځه ناقصُ العقل وي. د ديني علمونو نه ناخبره کسانو ته هم خپل خواب بيانول ناښهٔ خبره ده اؤ دښمنانو ته هم د خواب بيانول نهٔ دي پکار ځکه چې دښمن هم د خېر و برکت نه خالي وي.

د خوابونو اؤ د هغې د تعبيرونو پهٔ لړ کښې دګران کشر خيام يوسفزي د کتابونو دا سلسله د پښتو ژبې اؤ ادب د پاره نېک فال دے. دا ادبي اؤ علمي زيار د پښتو ژبې اؤ ادب د پاره يؤ ځانګړے حېثيت لري ځکه چې دا وړومبے علمي اؤ ادبي کوشش دے چې پهٔ منظم ډول ئې پښتو ادب ته پېرزو کوي. داکتاب د ښاغلي خيام د منظومو تعبيرونو د لړۍ دريم کتاب دے چې د "ت، ث" اؤ "ټ" د پټې نه د شروع کېدونکي الفاظو خوابونو تعبيرونه دي.

د پښتو ژبې مئينان د دوئي دې ادبي کوشش ته پهٔ درانهٔ سترګه ګوري ځکه چې د دې سلسلې وړومبي دواړه کتابونه پهٔ پښتنه نړۍ کښې مئينانو ډېر خوښ کړل. علمي اؤ ادبي تنظيمونو اؤ ټولنو پهٔ غوره اېوارډونو هم ؤنمانځل اؤ پهٔ دې ډول دا د دوئي د دې کار اؤ زيار ستائينه اؤ ډاډګېرنه ده.

ښاغلي شاعر د خپلو دوو نورو کتابونو پهٔ څېر دې کتاب کښې هم د ګرانو اؤ ګنجلکو خوابونو تعبيرونه پهٔ ډېره اسانه پېرايه کښې بيان کړي دي. د الفاظ انتخاب ئې غوره اؤ دلچسپ دے. زياتره الفاظ ئې د


www.pukhto.net

پښتو ژبې سوچه الفاظ دي. څۀ الفاظ ئې د عربی اؤ نورو ژبو هم راوړي دي ولې هغۀ هم د پښتو ژبې د مئينانو پۀ ذهنونو بد نۀ لګي د دې کتاب ډېر خوابونه زمونږ د پُښتنې چاپېريال دي چې د پُښتون ثقافت اؤ پُښتنې روايتي ژوند ژوندی نخښې پکښې څرګندې لېدلې شي لکه دا لانديني خوبونه اؤ د هغې تعبيرونه ؤلولئ.

## پټ پټونې

پټ پټـــونې امن ، مينه ده ښکلا ده
خو ورانې چې پکښې راشي استهزا ده
دا شـــوخي دَ ملتونـــو پۀ خرام وي
خو ورانې چې پکښې راشي نو هنګام وي
دا نوا وي دَ مارغانـــو پۀ چنار کښې
سندريــز کېفونه وي پۀ نوبهار کښې
پټ پټـــونې امن امن وي اوځار کښې
خو ورانې ئې دَ غم تندر وي تبار کښې
پۀ فضا کښې ګډه شوي کستوري ده
خو ورانې چې پکښې راشـي ناسوري ده
پټ پټـــونې دَ مِلت سحرګاهي ده
خو ورانې چې پکښې راشي تباهي ده
دغه مينه دَ موسی وه ، مهتري شو
پۀ ورانې کښې دا فساد دَ سامري شو

# تبر

کۀ پۀ لاس کښې چرته تبر دَ لرګبان وي
دا سړے پۀ کشـــاله کښې تر میان وي
پښېمـــاني ، کم عقل توب دَ ناکَسانو
کله کله وي سریکــــــار دَ احمقـانو
دَ منـزل پۀ لاره سترګې دَ شعور وي
مُحسنـــــــــانو ته رڼا دَ کوهِ طور وي
دَ هغۀ سړي پۀ خوب کښې خســاره وي
کۀ زنګ شوے تــرېنه تبر بیچاره وي
کۀ پۀ تبر چــرته پرې دَ زلفو تــار کا
دَ فـــــراق تبر پرې دم پۀ دم ګذار کا

ما خپلو لوستونکو ته د نمونې پۀ طور دا دوۀ تعبیرونه ځکه وړاندې کړه چې دا دواړه تعبیرونه د پُښتنې چارپېرچل سره تعلق لري. پټ پټونې یوه لوبه ده اؤ تبر د کور دننه هر وخت پکاریدونکے څیز دے، ولې ښاغلي خیام د دې دواړو څومره ګڼ اړخونه بیان کړي دي چې ښۀ هم دي اؤ بد هم . دا زمونږ د شاعر کمال دے چې د دې عامو څېزونو هر اړخېزه جائزه ئې اخیستې ده اؤ د لوستونکي پۀ ذهن اؤ نظر کښې دغه ټول اړخونه راڅرګندي کول غواړي اؤ هم دې ته د علم و فن کمال ، د ذهن زرخیزي اؤ د قلم تیزي وئیلې شو، دا ټول هنرونه زمونږ د شاعر خیام یوسفزي خاصه اؤ وظیفه ده.





www.pukhto.net

الله دې ؤکړي چې د دوئ د علم اؤ فن طرف ته دا تګ نور هم ګړندے شي، د دوئ د قلم دا شوخي اؤ تيزي نوره هم سېوا شي، د دوئ حوصلې نورې هم بريالۍ شي اؤ د پُښتو ژبې اؤ ادب سره دا مينه ئې لا د مئينتوب معراج ته ؤرسي اؤ دَ "الف" نه شروع شوے مزل ئې د" ي" منزل ته ؤرسي. (امين)

پهٔ درناوي

**مياں فضل الرحمان شاؔهد**

همېشه پُښتو ادبي ټولنه ، آماندره ملاکنډ

18 جولائي، 2018 ز



www.pukhto.net

# خوبونه په ورغوي
(پیر قائیل بغړزے)

خیاٙم ؛ چې تصوّر کړله خیالونه په ورغوي
الله ئې رازرغون کړه ګلابونه په ورغوي
خیاٙمه ؛ اوس به ستا کتاب کښې ګورو تعبیرونه
تا داسې خوشنما کړه دلیلونه په ورغوي
خیاٙمه ؛ تا ښکاره کړه د خېمې کرامتونه
نسکور دې دَ غرور کړه محلونه په ورغوي
ته داسې ترجمان شوې دَ خوبونو تعبیرونو
تا ښکلې ترجمه کړله لفظونه په ورغوي
خیاٙمه ؛ ستا کتاب ښکلې ډالۍ ده دَ ګلونو
دَ ژوند په ائینه کښې ډېر شکلونه په ورغوي
نکرېزې ستا دَ فن وې ، لېونۍ اووې خیامه
زهٔ ځانله جوړۆمه ترې ګلونه په ورغوي
خیاٙمه ؛ ستا دَ فکر فلسفه هم عجیبه ده
شاعر کله موندلې دي خوبونه په ورغوي





www.pukhto.net

مونږ خوار دَ تندی کربښې پکښې ګورو نهٔ پوهېږو
دَ خلقو خو پراتهٔ وي تقدیرونه پهٔ ورغوي
دا ځینې فرعونان خو دنیا داسې کړه برباده
تهٔ وې به چې پراتهٔ ئې دي ښارونه پهٔ ورغوي
محنت شي پهٔ لاسونو زمونږ بخت خانه خراب دے
حالاتو راته ایښې انګارونه پهٔ ورغوي
پردي غمونه ژاړو پهٔ خپل ځان مو پروا نشته
مونږ ځانله غوره کړي قیامتونه پهٔ ورغوي
افسوس چې مونږ وے پوهه هم سالار مو درغل نهٔ وے
پراتهٔ به مو ټول عمر وے لعلونه پهٔ ورغوي
زمونږه مشران به ئې دېوال پورې پېوست کړه
سامراج به ورته ټک وهل میخونه پهٔ ورغوي
زهٔ ورځ دَ خپلواکۍ به ولې نهٔ نمانځم ملګرو
چې خدائې مو روزي کړي نعمتونه پهٔ ورغوي
دښمن کهٔ دَ بهر دے کهٔ دَ کور دے دواړه سوزي
مونږ داسې دي شته کړي قسمتونه پهٔ ورغوي
نړۍ دې پهٔ دې پوهه شي مونږ جنګ نه نهٔ وېرېږو
مونږ ټول عمر ایښودي دي سرونه پهٔ ورغوي


www.pukhto.net

تقدير چې مهربان شي نو هر کار دَ ژوند اسان شي
پراتۀ وي بيا بې شمېره راحتونه پۀ ورغوي
پخوا به پۀ يو راز باندې ژوندون خلقو قربان کړواوس
خلقو اېښودلې دي رازونه پۀ ورغوي
ژوند څنګه ، کله څنګه ، کله څنګه وي ملګرو
سوزونه پۀ ورغوي هم سازونه پۀ ورغوي
افسوس چې اسويلي شي سرې لمبې پۀ سوندو راشي
مونږ ؤتوکو لۀ قاره سرۀ اورونه پۀ ورغوي
مونږ داسې دَ جبين پۀ خال مئين يو لېوني يو
مونږ ټول عمر بائيللي دي شرطونه پۀ ورغوي
سراب سراب خوبونه مو پۀ وېښۀ ډېر ليدلي
مونږ داسې راغونډ کړي دي دشتونه پۀ ورغوي
ستا سترګې تکې سُرې وے ما چې جام دَ زړګي راوړو
تا اوومهل ظالمې خمارونه پۀ ورغوي
يو ځلې فالي وئيلې وو چې ټول عمر به ژاړې
ما وۀ نۀ موندله تالا ديدنونه پۀ ورغوي
کمال ته رسېدۀ دَ فن پکار وي دا ئې شرط دے
خيالونه هم راځنډ وهي خالونه پۀ ورغوي





www.pukhto.net

ستا مینه دې هم دا وي لا دې زياته شي خيآمه
هم داسې ځلوه نور تصویرونه پۀ ورغوي
چا وے چې تۀ شاعر ئې پير قائيلۂ بغړزيه
هغې وې ماله اولیکه شعرونه پۀ ورغوي

پير قائيل بغړزے



www.pukhto.net

# خوبونه په ورغوي

د ښاغلي خيام يوسفزي د خوبـــونو د تعبيرونو د لړۍ"خوبونه پهٔ ورغوي" دريم ټوک مې پهٔ وړاندې دے، پهٔ دې ټوک کښې د "پ" نه تر"ټ" پورې د تورو تعبيرونه پهٔ منظوم صورت کښې ستاسو پهٔ وړاندې دي، پهٔ دې لړۍ ښاغلے خيام يوسفزے ډېر ډېر د ستائلو جوګه دے ، بلها ګران کار ته ئې ملا تړلې ده، خوب اؤ تعبير اؤ بيا پهٔ داسې منظـــوم اؤ خونده ور انداز کښې چې زړهٔ سترے خو ډېر مهم کار دے ، د خوبونو اؤ د تعبير د علم پهٔ ژوند کښې اهميت د قران ،حديث اؤ ډېرو روايتونو نه څرګند دے. رحمتُ للعالمينﷺ د معراج نه پس يؤ خوب ليدلې وهٔ اؤ پهٔ قـران کريم کښې الله جلّ شانه د دغه خوب تصديق فرمائي صَدَقَ اللّٰهُ رَسُولَهُ الرُّؤْيَا بِالْحَقِ ژباړه: الله خپل رسول ته خوب پهٔ حقه سره رېښتيا کړو .

هم دغسې پهٔ يؤ بل ځائې کښې الله د يوسف عليه السلام د پاره د خبرو تاويل اؤ تعبير معجزه ګرځولې وه وَكَذٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الأَرْضِ وَلِنُعَلِّمَهُ مِن تَأْوِيلِ الأَحَادِيْثِ ج

ژباړه : همدارنګه مونږ يوسف ته پهٔ زمکه کښې ځائې ورکړو اؤ د دې د پاره چې مونږ هغه ته د خبرو څهٔ تاويل اوښايو .

هم پهٔ سورة يوسف کښې وړاندې د دوو قېديانو د خوب د تعبير





www.pukhto.net

د غوښتنې په اړه په قران کريم کښې ارشاد دے قَالَ لَا يَأْتِيكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقَانِهِ إِلاّ نَبَّأْتُكُمَا بِتَأْوِيلِهِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَكُمَا (مفهوم:يوسف اوويل چې چې تاسو ته به ستاسو د خوراک نه وړاندې ستاسو د خوب تعبير درکړې شي)، وړاندې فرمائي ذٰلِكُمَا مِمَّا عَلَّمَنِي رَبِّي ( دا علم ماته زما رب ښودلے دے ).

داسې نور هم ډېر اياتونه دي لکه د حضرت ابراهيم عليه السلام اؤ حضرت اسحاق عليه السلام واقعه هُم د دغې يوه حصه ده چې د دې علم په نيکۍ او فضيلت باندې ګواهي ورکوي ،د حضرت انس(رض) نه روايت دے چې د رسول الله ﷺ ارشاد دے :
الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنْ النُّبُوَّةِ ( ريښتونے خوب د نبوت شپږ څلوېښتمه حصه ده ).
بل ځائې راغلي دي :
"عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَشَفَ رَسُولُ اللهِ السِّتَارَةَ وَالنَّاسُ صُفُوفٌ خَلْفَ أَبِي بَكْرٍ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنْ مُبَشِّرَاتِ النُّبُوَّةِ إِلا الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ يَرَاهَا الْمُسْلِمُ أَوْ تُرَى لَه"

ابن عباس(رض) فرمايي پيغمبر ﷺ په داسې حال کښې پرده پورته کړه چې خلق د ابو بکر(رض) شاته په صفونو کښې ولاړ وُه ، نو وې فرمائيل اې خلقو د نبوت د زېرو ( خبر ورکولو ) څخه بل څۀ نۀ دي پاتې سېوا لۀ نيک خوبه چې مسلمان ئې اووينې يا ورته اوليدل شي.




www.pukhto.net

د عبد الله بن عباس(رض) نه روایت دے چې رسول الله ﷺ فرمائي چې خوب هم یؤ قسم وحي ده د کومې پۀ ذریعه چې الله خپل بنده ته خیر اؤ شر خبر ورکوي .... د حضرت عبد الله بن عباس(رض) نه دا هم روایت دے چې خوب یؤ داسې نعمت دے چې د دې پۀ واسطه لمړې ځل رسول الله ﷺ یؤ مقربه پرېښته لیدلې وه چې کلام ئې ورسره کړې وۀ اؤ د نبوت زېرے ئې ورته اورولے وۀ.

ابو سعید خُدري(رض) فرمائي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې کۀ تاسو کښې څوک نېک خوب اوویني نو پکار ده چې د شکر ادا کړي اؤ دغه خوب دې د خپلو ملګرو سره شریک کړي اؤ کۀ بد خوب اوویني نو پکار ده چې څو وارې دې تَعوُذ اووایي اؤ دغه خوب دې چاته نۀ بیانوي چې د شر نه ئې پۀ امان شي.

د حضرت علي(رض) نه روایت دے چې مومن کله خوب اووینـــي نو تعبیر ئې پرې واجب شي ځکه د دۀ پاره ضروري شي چې د خپل خوب د تعبیر نه اګاه شي، کۀ خوب ئې نېک وي چې پرې خوشاله شي اؤ کۀ خوب ئې بد وي نو لۀ شره ئې پۀ تدبیر اؤ مصلحت بچ شي ......... د خوبونو او تعبیرونو پۀ لړ کښې ډېرو عالمانو ډېر کار کړې دے لکه حضرت امام جعفر صادق(رح)، حضرت امام محمد بن سیرین(رح)، حضرت امام جابر مغربي(رح)، حضرت امام ابراهیم کرماني(رح) او داسې نور، پۀ دې لړ کښې ډېر کتابونه لیکل شوي لکه کتاب التعبیر، کنز الرؤیا، تحفه الملوک، مهاج التعبیر، حقائـقُ الرؤیا، التعبیر للطاموسي، مقدمه التعبیر اؤ داسې نور چې پۀ بېله





www.pukhto.net

بیلو ژبو کښې ژباړل شوي هم دي خو لهٔ بده مرغه پهٔ پښتو کښې زما لهٔ نظره پهٔ دې مېدان کښې دومره کار پهٔ نظر نهٔ راځي اؤ بيا دا منظوم تعبيرونه پهٔ دې لړ کښې وړومبے ګام دے.

د حضرت عبد الله بن مسعود (رض) نه روايت دے چې د حضور ﷺ ارشاد دے: "الرُّؤْيَا ثَلاثٌ : فَبُشْرَى مِنَ اللهِ ، وَحَدِيثُ النَّفْسِ وَتَخْوِيفٌ مِنَ الشَّيْطَانِ"

د خوب درې قسمه دي : مبشراتِ خداوندي ، د زړهٔ خيالات اؤ دريم وسوسه يا وېرول ، د دې حديث څخه ظاهره ده چې د خوب ټول اقسام صحيح قابلِ تعبير نهٔ وي بلکې د تعبير اؤ التفات جوګه هغهٔ وي کوم کښې چې بشارت اؤ خبردارے وي.

خوب د چا د پاره دے اؤ څوک تعبير کولے شي؟ پهٔ دې لړ کښې زما پهٔ اند د امام ابن سيرين (رح) دا ارشاد پوره دے فرمائي پوهه شئ چې د يؤ عِلم عالم د بل عِلم نه لاپرواه وي خو د تعبير د بيان د پاره تفسيرِ قران ، د حضور پاک د احاديثو علم ، مثالونه ، متلونه ، محاورې د عرب اؤ عجم، لُغات اؤ لفظونه چې د يو بل نه راوځي د دې ټولو علم ضروري دے. د مُعبر د پاره ضروري ده چې نرم خويه ، نېک اؤ اديب وي اؤ هر وخت د الله نه د کرم اؤ توفيق غوښتونکے وي چې رب ئې په خپل کرم سره رهنمائي اوکړي، ژبه ئې پسته اؤ خوږهٔ وي اؤ دا خوبي هغهٔ چاته پهٔ برخه کېږي د چا چې طبيعت اؤ ذهن پاک وي ، د حرام نمړۍ نهٔ خوري ، د بې ځايه خبرو اؤ ګناه نه ډډه کوي. پهٔ عقل مندو باندې د تعبير زده



www.pukhto.net

کول واجب دي ځکه چې دا هغهٔ علم دے چې هر سړے خاص و عام ، عالم اؤ جاهل د دې محتاج دے.

د شکر ځائې دے چې تر څو زهٔ خیام یوسفزے پېژنم نو دا صفتونه ورته الله تعالیٰ بسیار ورکړي دي ، د جماعت اؤ نظریې سړے دے، د کتاب پهٔ سر کښې لیکلې دعا اؤ ځائې پهٔ ځائې د ذاتي حادثو اؤ تجربو نه وتلي د قلبي وارداتو د عکسونو نه ئې د نظر اؤ نظریې څهٔ نا څهٔ څرک هم پهٔ نظر راځي،زهٔ ئې د نزدې نه پېژنم نو دغه تاثر ئې تاسو ته پرېږدم چې د لیک نه ئې زیات خوند واخلئ.

شاعري ئې لهٔ خوندونو برجقه ده ، د روایاتو سره تړلې جدت پهٔ کلاسیکي لهجه کښې یؤ نوې اؤ ځانګړے اسلوب ، چې د ښهٔ ذوق څښتن ترې د غزل اؤ نظم دواړو خوند ، پهٔ یؤ غشي دوهٔ ښکاره اؤ پهٔ یؤ ټکټ دوهٔ مزے ، د متلونو پهٔ څېر د کلي اؤ ښار خلق یؤ شان اخیستلے شي، ټول کتاب ئې د نوې لفظیاتو پهٔ ځائې د کارولو ښهٔ مثال دے خو کمال ئې دا هم کړے دے چې لوستونکي ئې د قاموسونو اؤ د لټون د کړاؤ نه ساتلي دي اؤ دغه خواري ئې هم خپله تر سره کړي ده. د پښتو زاړهٔ ،نوې متلونه ،روزمرې، محاورې، لنډۍ اؤ داسې نور ئې هم ځائې پهٔ ځائې داسې پهٔ هنر کارولي دي چې سړے ورته پهٔ واه واه وئیلو هم مجبور شي لکه:

بر ناحقه بې اغراضه وي پادري
هندو سترے خدائې ناراضه وي پادري





www.pukhto.net

یا دا

نو تفسیر د داسې خوب به بیا سفر شي
پهٔ تعبیر کښې دَ سړو کړه پهٔ سر شي

یا دا

کهٔ دَ پیر بابا زیارت له پتاسې وړي
نو پهٔ تله د اعمالو خسارې وړي

د ښاغلي خیام یوسفزي رنګونه ډېر دي، د ستائیلو هم بلها جوازونه لري اؤ پهٔ وړه خلهٔ باندې اسان هم نهٔ دي څکه ماته د لیک راغونډول هم اسان تهٔ دي ، خپله خبره هم د دوئ پهٔ شعرونو د لړ بدلون سره راټولؤم اؤ د رب نه ورته دعا غواړم چې :

رب دې زړهٔ دَ حکمتونو سمندر کړي
د ظلمت اؤ دَ تیارو نه دې بهر کړي

کدورت اؤ پرېشانۍ دې ورنه دور کړي
سکینت دَ جمعیت دې ور حضور کړي




www.pukhto.net

دَ هوس ژبه ئې بنده پهٔ لکنت کړي
دا سینه ورله برجقه پهٔ حکمت کړي

دَ تود باد دَ زمانې ئې پهٔ امان کړي
پهٔ ښائست ئې معتبر پهٔ دوهٔ جهان کړي

مینه اؤ احترام

طیب خان
۱۲ دسمبر ۲۰۱۹
اسلام اباد





PUKHTO.NET
www.pukhto.net

# مناجات اؤ کفاره

کۀ سکروټه پۀ اورونو کښې سرخرو یم
سیــاه کاره پۀ عمل کښې روبرو یم

زړۀ ځیګر مې د فتنو پۀ تېغ غربال دے
دَ ابلیس پۀ تلبیسنو مې دا حال دے ①

امّاره مې پۀ فتنه دَ جوهــري دے
چې پۀ سخي پسې روان دَ سامري دے ②

---

① تلبیس: پۀ ډېرو معنو کښې مُستعمل دے لکه دروغ ، بهتان ، اشتباه ، وسوسه اؤ سترِ حقیقت چې د یؤ څېز حقیقت ئې پټ کړې وي .

② وَمَا أُبَرِئُ نَفْسِي إِنَّ النَّفْسَ لَامَّارَةَ بِالسُّوءِ





www.pukhto.net

پۀ خوږو کښې دَ هوس دَ اندېښنو نه
ما بـــرَي کړه دَ دې دهر لۀ فتنو نه

کج قدم مې د ے رسا پۀ باريکۍ کښې
راکړه لعل دَ شبستان پۀ تاريکۍ کښې

زما زړۀ دَ حکمتونـــو سمنـــــدر کړه
د ظُلمت اؤ د تيـــارو نه مې بهر کړه ①

پرېشـــانۍ دَ کدورت لۀ مانه دور کړه
سکينت دَ جمعيت راته حضور کړه ②

دَ هوَس ژبه مې بنـــده پۀ لُکنت کړه
دا سينه راله بـــرجته پۀ حکمت کړه

① ظُلمت : تياره ، تورتم
② کدورت : کرکه ، نفرت || سکينت : سکون ، استقرار ، اطمينان





www.pukhto.net

نظریه مې پۀ زخمک دَ الله هُو کا *
جماعت زما دَ فکر پرې لاهو کا

کفـــاره به مې دَ ژوند شي بخت آرایه *
دَ رحمت پۀ عرش هم تۀ ئې تخت آرایه

۲۰-۰۷-۲۰۱۹
جده

* زخمک : مضراب || آرایه : زیبا ، ښائیسته

نظریه اؤ جماعت :

* دَ خالق لۀ اړخه چې کوم سپېڅلے فکر دَ سپېڅلي اعتقاد پۀ اساس ورکړلې شوے وي هغې ته نظریه وائي ـ
* نظریه پۀ معاشره باندې اثر غورځوي خو دَ معاشرې نه متاثره نۀ وي ـ
* دَ نظریې پۀ پس منظر چې کوم هدف وي دَ هغې خصمانه بتدریج شوي وي ـ
* کۀ څوک ئې قتلوي اؤ یا ئې سوزوي ( وَاِنْ قُتِلْتَ وَحُرِّقْتَ ) خو دَ نظریې ښبنتن به پۀ خپله نظریه ټینګ ولاړ وي ـ




www.pukhto.net

* چې پهٔ دغه انداز نظریه خپله کړې شي اؤ دَ دغې یوې نظریې کسان پهٔ یوه لړۍ کښې وهٔ پېئلے شي نو دغې ټولګي ته جماعت وائي ـ
* دغه جماعت چې پهٔ منظم انداز کوم حرکت کوي اؤ بدلون راولي نو دغې بدلون ته انقلاب وئیلے شي ـ
* کوم انقلاب چې پهٔ دغه ډول راشي نو دا بیا تر صدو صدو پورې ژوندے وي ـ
* نظریه نهٔ خپل ملګري قتلوي اؤ نهٔ دَ بل ملګري قتلوي بلکې خپله نظریه وړاندې کوي اؤ ملګري خپلوي ـ

اَلْجَمَاعَۃُ رَحْمَۃٌ ، وَالْفُرقَۃُ عَذَابٌ (حدیث)





www.pukhto.net

# (پ)



www.pukhto.net

# ( پادري )

بــر ناحقه بې اغــراضه وي پادري!!
هندو ستړے خدائې ناراضه وي پادري

چې پُـادري دَ يؤ اولس چرته پېشوا شي
پۀ معنوکښې استفهام ئې دَ بريا شي ①

دَ باغيانــو تعبيرونه پۀ تحقيق کښې
دَ نيکۍ نه بېګانه وي پۀ توفيق کښې

۳۰-۱۲-۲۰۱٦

① استفهام: ځان پوهونه ، سوال پُښتنه



www.pukhto.net

# ( پاړسوب )

چې وجود دې پړسېدلے بند پۀ بند وي
تعبيـرونه درتـه واړه به څرګنـــــد وي

مُستغني شي دَ هـر چانه پۀ غَنا کېږي *
شنـډې ګنْج دَ مُوَلِّد مومي عطا کېږي

دَ حسرت غم مُبدّل شي پۀ مُراد کېږي
يا دَ ښځـې نه فائده وي اِستفاد کېږي *

دَ اميد مشال ئې بل شي پۀ ظُلمت کېږي *
تعبيـرونه دَ رَجا اوځـــې روئيّت کېږي

۳۰-۱۲-۲۰۱۶

* مُستغني: خود اختيار ، بې نيازه ،سر خود || موَلد: دَ بچي زېږون
غنا : مالداري، شتمني || استفاد: اِستْفادَ منْ يَسْتفيد ، ګټه پورتکونکے
ظُلمت: تکه توره تيارۀ || رَجا: هيلە ، اُميد







www.pukhto.net

# ( پاګل ، لېونے )

خدائې دې ؤساته لهٔ هـرې ناجوړتيا نه
خصوصاً دَ مايـــوسۍ بدې بلا نه

خرابـــــات لره پهٔ ولو دَ بلا ځي
بې همّته چې مايـوسه نېمه خوا ځي

واړه هځې لېـونۍ چې دَ همّت شي
بريالتوب به ئې بيا هسې عبارت شي

دَ حالاتـــو بدلېدهٔ دَ دې تعبير دے
لېونے پهٔ خپل مرام کښې چې زهير دے





www.pukhto.net

پهٔ بدي کښې لېونتوب وي ګـــړنګونه
يا ئې لويـــــږي پهٔ سرونـــو خرسنګونه (١)

بې عارضه لېونتـــوب وي دَ مال نخښه (٢)
بهر کيف زمانه غواړه دَ حال نخښه

۳۰-۱۲-۲۰۱۶

(١) خرسنګونه: لوئې کاڼي
(٢) عارضه: ناجوړتيا ، بيماري





www.pukhto.net

# (پالان ، کجاوه)

کجاوه کۀ دې پۀ ملا وي پۀ احلام کښې
نو وَ ښځې ته سر خَم شي پۀ انجام کښې

کۀ اخيستې ئې پالان وي تۀ خبر شه
مُجردو لۀ زنـــــان وي تۀ خبر شه

دَ ښــائېسته پالان تعبير نېکه چلن وي
خو نـــــاولې کجاوه خــــرابه زن وي

دَ خرڅ کړي کجاوې به څۀ تفسير وي؟
جدائي دَ خپلې ښځې ئې تعبير وي





www.pukhto.net

سامانونه دَ ســـاروان سره پرتل کښي [۱]
چي اوښان ورسره هم وي پهٔ اردل کښي

نو تفسير دَ داسي خوب به بيا سفر شي
پهٔ تعبير کښي دَ ســـړو کډه پهٔ سر شي

۳۰-۱۲-۲۰۱٦

(۱) پرتل : دَ کوچيانو کډه ، پيش خانه
تعبيرِ خيام



www.pukhto.net

# ( پالش ) *

رڼونه ، پاکونه ، ځلا ورکونه

چې دَ جُهل پهٔ تندي کښې کله وَنج وي ①
اؤ دَ علم نه عاري لکه دَ ګنج وي

یا کارونه پهٔ عمل کښې دِل آزار وي
یا غربت ترېنه تاؤ کړې لوئ حصار وي

نو تعبیر کښې به حالات ئې زر بدل شي
چې مخونه پهٔ خوبونو کښې صېقل شي ②

۳۰-۱۲-۲۰۱٦

* انګلسي Polish
① وَنج : نقص
② صیقل : پاکېدل ، سپینېدل ، روڼائي





www.pukhto.net

# ( پالک ساګ )

چې ګېډې دَ ساګو بندي پهٔ سوتلې شي
دَ غمونـــو در پهٔ سر به ښـــې ګاټلې شي

کهٔ اومه دې تجربه کـړو نو نقصان دے
دَ پخ شوي ساګ تعبیر دَ نفعې کان دے

۳۱-۱۲-۲۰۱۶



www.pukhto.net

## (پانچې)
پښې یا پائې

دَ یاقوتو کۀ لوئ غر وي پۀ صفات کښې
دَ حرامو مال تۀ خس ګڼه پۀ ذات کښې

دَ حرامو نه پۀ ژوند کښې احتراز کړه (۱)
پۀ منبع کښې حرام مال به فتنه ساز کړه

(۱) إنّ لكلّ أمّة فتنةً، وإنّ فتنةَ أمّتي المالُ
دَ هر امت دَ پاره فتنه وه (دَ آزمېښت اسباب وو) اؤ زما دَ امت دَ پاره فتنه (دَ آزمېښت اسباب) مال دے۔
(رواهُ الترمذي وقال حديث حسن صحيح
رياض الصالحين للعثيمينؒ)
وَاعلَمُوا أنّمَا أموَالُكُمْ وَأولَادُكُمْ فِتنَةٌ
اؤ پوه شئ چې مالونه او اولادونه مو آزمېښت دے۔
(انفال ۲۸)

منبع: سرچينه، د وتو ځائې





www.pukhto.net

کۀ پۀ خوب کښېِ دَ نلو هډوکې شپېلي (١)
نو بس رګ رېښه ئې ښائي دَ خوب زېلي

پۀ حرامو به لمبه ګېـــــــډه تنور کړه (٢)
دې نشې دَ جهان ډېر خلق مخمور کړه

٠٣-٠١-٢٠١٦

(١) نلے :دَ هډوکې مغز ۱۱ شپېلل :دَ هډوکې نه نلے پۀ خلۀ راکښل
زېلي : جرړې

(٢) إنَّ الذينَ يَأكُلُونَ أمْوَالَ اليَتَامَى ظُلْمًا إنَّمَا يَأكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا ۔
بېشکه هغه کسان چې دَ يتيمانو مالونه پۀ ظلم سره خوري ، يقيناً چې هغوئ پۀ خپلو خېټو کښې اور خوري ، اؤ زردې چې لمبې وهونکي اور ته به داخل شي ( سورة النساء ١٠ )

❖ وَلَا تَأكُلُوا أمْوَالَكُمْ بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ وَتُدلُوا بِهَا إلَى الحُكَّامِ لِتَأكُلُوا فَرِيقًا مِّنْ أمْوَالِ النَّاسِ بِالاِثْمِ وَأنتُمْ تَعْلَمُونَ ۔
اؤ خپل مالـونه پۀ خپل مېنځ کښې پۀ ناحقه سـره مۀ خـورئ، او حاکمانـو ته ئې دَ دې دَ پاره مۀ ورکوئ چې دَ خلکـو دَ مالونـو نه څۀ حصه پۀ ظلم ؤخوري ، اؤ حال دا چې تاسو پوهېږئ ۔
(سورة البقرة ١٨٨)


www.pukhto.net

# (پانزېب یا پازېب)

ګذارونه دَ غمونو درنګ پهٔ درنګ وي
چې پهٔ پښو کښې دَ سړیو چرته چنګ وي

یا اطلاق ئې پهٔ کمزوري اعتقــاد وي
یا زندان تــرېنه خوبونـو کښې مراد وي

دَ غمونـــو نه ســـړو نجات موندلے
چې دَ پښو نه ئې پـانزېب وي پرېـوتلے

کهٔ پهٔ پښو کښې دَ یو ښځې پساله شي [1]
پهٔ هر حال کښې ښهٔ تعبیر دَ سیاله شي

(١) پساله : کالي ، زیور





www.pukhto.net

پۀ تعبیــــر کښې اشــاره به وي خاوند ته
یا کېدې شي اشـــــاره ئې وي فـرزند ته

پۀ معیوبه پانزېبونو کښې لوی عېب دے
دا خبــره دَ قاعدې ده ، نۀ چې غېب دے

۰۴-۰۱-۲۰۱٦


www.pukhto.net

# (پاڼې دَ وُنو)

چې پاکیزه وي پهٔ خوب کښې برخورداره
هُم مېـوه ئې پهٔ موسم کښې مزیداره

دَ دې وُنې پاڼـــې بیا ښکلي اعمال وي
پهٔ تعبیر کښې دَ نېک خویه احتمال وي

کهٔ مېوه ئې بـې مزې وي نـو بیا پـاڼې
پهٔ بدخُـــویه دلالت کـــوي دا پـاڼې

ګوري وُنـــې پهٔ خوبونو کښې به څهٔ وي؟
پهٔ تعبیرکښې فـــراخي دَ مال لیدهٔ وي

۰۵-۰۱-۲۰۱٦





www.pukhto.net

# (پاڼې دَ کتابونو)

کۀ پۀ پاڼــــو ارتینه نقش و نګار کړه
ښائي دا چې وَ پېشه به دَ سینګار کړه

کۀ کاغذ درله درکـــړې عُهدیدار وي
بې روزګاره ته به زیرے دَ څۀ کار وي

کۀ پۀ پاڼــو څوک الټه چرته لیکل کړه
پۀ عامِل به دَ جادو افسون عمل کړه

کۀ موندلــــي چا اقلام دَ کتابت وي
پۀ تعبیر کښې به دې لرې لۀ غربت وي

۰۵-۰۱-۲۰۱۶



www.pukhto.net

# (پتاسې) *

کۀ دَ پیر بابا زیارت لۀ پتاسې وړي [۱]
نو پۀ تله دَ اعمالو خسارې وړي

پتاسې کۀ پۀ خوبونو کښې ویشل کا
نو تعبیر ئې پۀ ښادۍ باندې بدل کا

۲۰-۰۱-۲۰۱۶

* تعبیرِ خیام
(۱) خلک زیارت له پتاسې وړي
زۀ دَ جانان لپاره غونډه روپۍ وړمه





www.pukhto.net

# ( پتنګ )

پهٔ یؤ حال هم نهٔ جارباســي تر سحره
واړه مست وي پهٔ بیم پلاسي تر سحره ①

دَ نفسونـو هلاکت دے پهٔ تعبیر کښې
امّاره چې کله مَل وي پهٔ مُشیر کښې ②

خدائې دې ؤساته بال بچ دَ ابتلا نه
پتنګان کهٔ چرته مړه شولو دا ستا نه

---

① بیم پلاسي : د یؤ راګ نوم دے .
② وَمَا أُبَرِئُ نَفْسِي إِنَّ النَّفْسَ لَامَّارَةَ بِالسُوءِ .
نفْسَ الامّارة هغه نفس چې انسان غلطو کارونو ته مایل کوي .
مُشیر : صلاح ورکونکے.
شعر : عاقبت به ککرئ ورباندې کښېږدے
تر څراغ چې ګیڼ وهے ګرځے پتنګه (خوشحال بابا)

شعر : تش پهٔ رڼا مئین پتنګ پهٔ سرو لمبو کښې وسو
دَ ابراهیم غونډې ډېر کم خلق جانـــان پېژني (عبد الرحیم روغانے)



www.pukhto.net

کۀ پتنګ دي رانيولے وي پۀ خوب کښې
دَ بچي زړے به شي دغه ټاټوب کښې

کله کله پۀ نا اهلو اشـــــارت وي
سريکار چې به دَ چا لۀ سيـاست وي

کله وړه کله تـــرهه پۀ اشياء کښې ①
ذلالت دے دَ اعمـالو پۀ دنيا کښې

دَ نېک بختو تعبيرونه ، پۀ لټون کښې
بريالتوب شي تفسيرونه ، پۀ لټون کښې

٢١-٠١-٢٠١٦

① يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ - (سورة القارعة ٤)
پۀ هغه ورځ کښې به خلک دَ خوارۀ کړې شوو پتنګانو پۀ شان وي (پۀ وجه دَ هېبت) -





www.pukhto.net

# ( پتون )

پهٔ پتون کهٔ ټپَکـــــــي درته وهينه
بالا دست پهٔ تهي دست باندې وهينه ①

تهٔ به ځان ساتے دَ مکر دَ چل وَل نه
داسې خوب کهٔ عبارت شو دَ زلل نه ②

دَ پتـــون ســـره کهٔ غوښه مُتّصِل شي
دَ دروغــو څهٔ افت به پـــرې نازِل شي

کهٔ پهٔ خوب کښې پتونان دې شول بې کاره
تعبيرونه درته ښـــايمه ، تهٔ شمـــاره

① ټپکي: پتون وهل || دواړه قافيې جُدا معنې ورکوي
② زلل: نقصان ، تاوان .

یا به ښځه لا حاصله وي پهٔ ژوند کښې
یا بې خوَنده به ارتینه وي پهٔ خوند کښې

یا رقیب به دې تاوان باندې زړهٔ یخ کړه
یا به غشي دَ افت دې پهٔ زړهٔ ښخ کړه

یا بندش دَ کاروبار وي پهٔ ناتار کښې
یا دَ خپلو جدائي وي پهٔ تبار کښې ①

۲۸-۰۱-۲۰۱٦

① تبار : خېل ، خانه





www.pukhto.net

# ( پتيله )

پتيله به ارتينــــه دَ ارام ګاه وي
دَ کورونــو دَ کارونــو نه اګاه وي

کۀ څۀ ښۀ خېز دې ليدلو پتيله کښې
نو دا خبر دے اؤ فائده ده پۀ صِله کښې

دَ شاهانـــــو پتيله مُتــــوّلي وي (١)
پۀ ښۀ وضع کښې اطلاق ئې پۀ ولي وي

کۀ ښۀ نۀ وي نو شاهانـــو لۀ افت دے
تالا شوے پرې دَ ډېرو شان شوکت دے

٢٨-٠١-٢٠١٦

(١) متوّلي : انتظام کؤنکے || وضع : حالت ، صورت



www.pukhto.net

# (پټ پټونې)*

پټ پټــــونې امن ، مینه ده ښکلا ده
خو ورانې چې پکښې راشي استهزا ده ①

دا شوخـــي دَ ملتونو پۀ خـــرام وي
خو ورانې پۀ هنګامه کښې د هنګام وي

دا نوا وي دَ مارغانـــو پۀ چنارکښې ②
سندریـــز کېفونه وي پۀ نوبهارکښې

پټ پټـــونې امن امن وي اوښار کښې
خو ورانې ئې دَ غم تندر وي تبار کښې ③

---

* تعبیرِ خیام
① استهزا : ټوقه ټقاله .
② نوا : نغمه ، اواز ، خوشحالي .
③ تبار : خپلوان .



www.pukhto.net

پهٔ فضا کښې ګډه شوي کستوري ده[1]
خو ورانې چې پکښې راشي ناسوري ده

پټ پښتونې دَ ملت سحرګاهي ده
خو ورانې چې پکښې راشي تباهي ده

دغه مینه دَ موسیٰ وه ، مهتري شو[2]
پهٔ وراني کښې دا فساد دَ سامري شو

۲۸-۰۱-۲۰۱۶

① کستوري: مُشک،
② مهتري: کامیابي ، سرداري ، بزرګي،
شعر:
مهتری گر به کام شیر در است
شو خطر کن ز کام شیر بجوی
یا بزرگی و عز و نعمت و جاه
یا چو مردانت مرگ رویا روی





www.pukhto.net

# ( پټرول ) *

دَ الغاؤ تلغاؤ تعبير شي لۀ غټـانو
کله کله اشر نشر لۀ دوستـــانو

دَ معنو دَ زړۀ غُنچه مړاوي پۀ تاؤ شي
پۀ ورغوي کښې تعبير ئې دَ کړاؤ شي

۲۰۱٦-۰۲-۰۳

* انګلسي Petrol : بنزين





www.pukhto.net

# ( پتهې ) *

دَ تـــوتانو پۀ ښـــاخونـو کۀ وي لکې
کۀ پاخۀ چرې تـوتان وي توت خورکې

کۀ تـوتان دَ بوډيالۍ وي پۀ پتهو کښې①
نۀ مانۍ وي، نۀ ړلۍ وي پۀ پتهو کښې

چې پۀ بڼ کښې هـره وُنه تـــازه دم وي
جم و جوش دَ باغ و راغ پۀ هرقدم وي

نـــو سرسبزه به دَ ژوند نخلِ حيات وي
پۀ خوبونو کښې دا ښکلې توجيهات وي

---

* تعبيرِ خيام

① بوډيالۍ : دَ ننګرهار يوه سيمه.
ادکې مورې ! مانړو لۀ ځمه
دَ بوډيالۍ توتان ګلۍ وهلي دينه ـــ مانړو لۀ ځمه







www.pukhto.net

کهٔ دې شُولې تباه شوې وي شولګر کښېږي[1]
نو تعبير ئې وي دَ شخړې پهٔ خطر کښې

کهٔ فصلونه پهٔ خوبونو کښې وچ کړس وي
دَ حيات ښاخونه مات واړه پهٔ کړس وي[2]

کـرونده کهٔ دَ تخمونـو اؤ دانو شي
نـو فائده پهٔ اندازه دَ کـروندو شي

دَ معاش دَ لګښتـــونو روانـي وي
دَ شاهانـــو تعبيرونه سلطانـي وي

دَ ارتينـــو دَ شنډوالي ستر مات شي
لونډانو ته نصيب ښکلے حيات شي

(۱) شولګر : چرته چې شولې کېږي .
(۲) کړس : دَ ماتېدو اواز ، صوت .





www.pukhto.net

بـــزرګي به وي تعبير دَ بــزرګانو
چې بې وخته کـرونده نۀ وي صېبانو

کۀ پټې چرته پردے وي نو عصيان دے
يا بدفعله پۀ تلبيس کښې دَ شېطان دے (۱)

کۀ دَ تورو شړنګار جوړ وي پۀ پټو کښې
اشتعال به شي د ژوند ګرمو بټو کښې

انديښنې اؤ ناروغۍ به ئې تفسير شي
دَ بې وخته لۀ کـولو دا تعبير شي

۰۳-۰۲-۲۰۱۶

(۱) تلبيس : دَ شېطان مکرو فرېب ، دهوکه
يا دَ يۆ څېز حقيقت پټول .





www.pukhto.net

# (پردې)

ما چېړلے عجب تار عجب پردې دي
پــورته کړي لۀ حجابه مې پردې دي

دَ معاش دَ خــزانې قُفل تالا شي [۱]
چې دکان ته اوېزانده پـرده را شي

کۀ پـرده ئې شي وَکور ته اويزانده
دَ ارتينو پۀ ولقه کښې شي هړانده [۲]

منصف خپله همسا ماته کړي پخپله
دَ قاضي نخښه خطا درومي پۀ تله

چې ئې زړۀ ته پرده راشي نادانې ښۀ
" پۀ ړاندۀ باندې دَ مال نګهباني ښۀ "

---

(۱) قُفل : جندره.
(۲) هړانده : پرېشان ، ګېر ، اړم .

دَ ایمان دولت معدوم شي دَ پستۍ
چې پهٔ سترګو دې پردې وي د هستۍ

پهٔ دیدن کښې دَ یــار تنده به سړوا شي ①
پهٔ دیدن کښې کهٔ پردې مخې ته را شي

۲۲-۰٤-۲۰۱۷

① حمزه پهٔ هر دیدن مې دَ یــار تنده شي سړوا
الفت کښې پهٔ پردو پسې پردې دې چې راځي




www.pukhto.net

# (پرنجے)

(انتروشے ، پرچل ، پرش)

دَ دماغو دَ روغـــي دا علامت وي
دَ څۀ رنځ نه علاوه پرنجے صحت وي

دَ عرفان سترګې دَ علم پۀ لاس مړه
دا چراغ دَ الا دين پۀ اســاس مړه

پۀ هر کار کښې دَ سنّتو پېروي کړه (١)
اِتّبـــاع دَ مُحمّدِ عربي کړه

(١) إذَا عَطَسَ أحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ: الحَمْدُ لِلهِ ، وَلْيَقُلْ لَهُ أخُوهُ أوْ صَاحِبُهُ: يَرْحَمُكَ اللهُ فَإذَا قَالَ لَهُ يَرْحَمُكَ اللهُ فَلْيَقُلْ يَهْدِيكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ.

کله چې انسان ته پرنجے ورشي نو الحَمْدُ للهِ دې وائي اؤ څوک چې ورسره موجود وي ، هغه به ورته يَرْحَمُكَ اللهُ وائي اؤ پرنجے کوونکے به د هغه پۀ جواب کښې يَهْدِيْكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ وائي ، يعنې الله دې تاته هدايت وکړي اؤ ستا حال اؤ ستا بال بچ دې صالح وګرځوي . (صحيح بُخاري ٦٢٢٤)





www.pukhto.net

پرې روانه د سرې بنده بېړۍ شي
دَ انتروشي هر تعبیر دَ دُر لړۍ شي ①

۲۰۱۷-۰۶-۳
اتمه روژه

① لړۍ: امېل ، هار





www.pukhto.net

## (پرهر ، زخم ، خوږ)

دم پهٔ دم کهٔ دم روان وي دَ پــرهر نه[1]
اشـــــاره ئې خالي نهٔ وي دَ خطر نه

مصائِب دَ قـــــرضدار تر سره تېر شي[2]
اسبابـــــونه دَ حيات ورته ګنډېر شي

دَ معاش دَ کمېدو ګـــــړيال ځرخېږي
دَ "سر زخم" خو چې وينه تـــرې بهېږي

دَ نوُژنــو پـــــرهرونـــو لهٔ احـــواله
پهٔ حرامو جــــوړوي دَ جولا جـــاله

دَ چـــړو ، د سنګينونو کهٔ پرهر وي
پهٔ هرحال کښې به تعبير ئې دَ خطر وي

---

(۱) دم : وينه.
(۲) مصائب : مصيبتونه.





www.pukhto.net

عاشقي به ئې شي ښخه په سینه کښې
کۀ زړګے پرهر پرهر وي ائینه کښې

دا تعبیر دَ عاشقۍ وي پۀ تجرید کښې ①
باقي خلقو ته به غم شي پۀ شُنید کښې

بې لۀ وینې کۀ زخمونه چرته ګُل شي ②
پۀ احوال کښې دَ بندېز دَ چراغ ګُل شي

۲۰۱۷-۰۶-۰٤
نهمه روژه

① تجرید: لونډتوب ، جره ॥ شُنید: اورېدل
② دا مې نتیجه دَ سپرلي خېزه احساساتو ده
ګُل چې ئې زما دَ وینې وینې زړۀ زخمونه کړه
(اروابناد حبیب الله خان بېتاب ، کتاب: زخمونه ګُل شو)

مونږ لکه ګُل ښکارو پۀ زخمونو کښې
مونــږه پۀ پرهــر پرهــر کـوو اؤ ځو
(ډاکټر علي خېل درياب)




www.pukhto.net

# ( پړانګ )*

ورته یاد به دَ معنـــو زما ګُل بانګ شي
چې ئې یو طرف ته ډانګ اؤ بل خوا پړانګ شي
نهٔ ئې دین نهٔ ئې مذهب وي مُذبذب وي
پهٔ خوبونو کښې به پړانګ دښمن عجب وي
دَ اوښیـــارو پهٔ شـــان تهٔ تربنه دوري کړه
پهٔ تلخئ ئې دَ خبـــرو صبـــوري کړه
دَ عزت ســـره باید ئې زیست روزګار وي
چې دَ پړانګ سره یاري دَ یؤ میرښکار وي
کهٔ پـــړانګان درځني تښتـــي اؤ ترهېږي
"غلیمـــان به شـــرمنده تر تا ځارېږي"

* پړانګ : Leopard

۰۶-۱۱-۲۰۱۷



www.pukhto.net

# ( پړے )

کۀ لباس ئې دَ رســو پــړو اغوستې
دَ سفر دوړې معنو ئې پۀ سر نوستې

لۀ اسمـــانه کۀ رسۍ چرته نازِل شي[1]
پۀ معنیٰ کښې اتفـــاق ته به مائِل شي

دَ مالوچو ، د وړۍ پړے دیندار وي
دَ څرمنې دَ رســو تعبیر خونخوار وي

کۀ دَ رېږې لۀ وېښتو جوړه رسۍ شي
یاترې سازه پۀ خوبونوکښې سوتلۍ شي

---

(1) وَاعۡتَصِمُوا بِحَبۡلِ اللهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفرَّقُوا (سورة آل عمران)
اؤ تاسو دَ الله پۀ رسۍ پۀ جمع منګولې خښې کړئ اؤ سره بیلېږې مۀ.
وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفۡشَلُواْ وَتَذۡهَبَ رِيحُكُمۡ (سورة الانفال)
پۀ خپل مینځ کښې جګړه مۀ کوئ کنه بې زړۀ به شئ اؤ ستاسو زور به لاړ شي.







www.pukhto.net

دروغژن ترې جوتېــــږي پهٔ ويستنه
دَ رشوت داغـــــونه تل وړي پهٔ لمنه

چې پهٔ غاړه کښې رسۍ وي نو ښکاره شي
بې لوظي ترې پهٔ تعبير کښې اشکاره شي

بند پهٔ بند چې پهٔ رسو کښې بنديوان وي
پهٔ قرضونـو کښې بنده ښهٔ پرېشان وي

دَ رسۍ سره همسا کهٔ وي افسون دے
دَ ساحِرو دا تمثال ځانله مضمون دے

۰۸-۱۱-۲۰۱۷



www.pukhto.net

# ( پِسته )

دا چې راشي پِسته مغز دَچا پهٔ ګــوتو
بــــرخه مومي پهٔ تعبير کښې دَ اوچتو

دَ غربت شـــړې بدله ئې پهٔ شال شي
مات ټيکرے پکښې دَسرو زرو ګنډال شي

کرېږ ستنــې دَ زړګي پکښې سيدهٔ شي
دَ هدف غشـــي مراد ته رسيدهٔ شي

۰۹-۱۱-۲۰۱۷



www.pukhto.net

## ( پُښتۍ )

دَانسان چجې

چې خوبـــــونه دَ تعبير پۀ تله تول کا
نـو معنې به دې خپلوانـــــو ته راښول کا

پۀ خپلوانـــو کښې اکثر اطلاق پۀ آل شي
دَ مېرمنـــې پۀ تعبير زيات استدلال شي

څنګه حال چې پۀ خوبـــونو کښې اشکار شي
هو بهو به ئې تمثيل ورته دوڅـــــار شي

کۀ پُښتـــۍ ئې غتې ډکـــې وي لۀ غوښو
ثمـــــره وي پۀ معاش کښې دا دَ خوښو

کۀ پۀ خوب کښې ئې پُښتۍ چرې خوراک شي
پۀ عيال باندې بوجـــونه ئې دَ ژواک شي





www.pukhto.net

کۀ پُښتـــې شي پۀ چجو کښې چرته کمه
نـــو تعبير به دَ فــــــراق شي محترمه

پۀ پښتو کښې چې پُښتـې شي کله ماتې
انديښنـــې دَ پښتنـــو واخله بيا زياتې

۲۰۱۷-۱۱-۱۰





www.pukhto.net

# ( پُل )

دارِنـــــده کلیۍ دَ خوب به ورته ګُل شي(۱)
کۀ وجود دَ چا پۀ خوب کښې چرته پُل شي

تعبیـــــرونه دَ خوبونـــــو سنفره شي(۲)
دَ معاش کـــــوټه سیکه به پرې کره شي

کۀ دَ خاورو نه دَ اوسپنې پُل جوړ شي
وړې نفس به دَ الله پۀ ورکـــړه موړ شي

کۀ پۀ پُل باندې روان وي بې خطره
نـــو تعبیر ئې دَ سفـــــر شي بې ضرره

(۱) دارنده : مال ، شتمني .
(۲) سنفره : رېګمال .



www.pukhto.net

بل تعبير به ئې دَ ميني دَ مستان وي
پهٔ "صراطِ مُستقيم" باندې روان وي (١)

کهٔ پهٔ پُل باندې تـرهېږي اؤ ويـرېږي
نو پهٔ څهٔ نا څهٔ يؤ کار کښې به خوئيېږي

١٣-١١-٢٠١٧

(١) صراطِ مستقيم : نيغه لار .




www.pukhto.net

## ( پُنبه ، مالوچ )

دَ مالوچو ډېر کۀ درشي پۀ تحويل کښې
دَ ښۀ مال برخه به يوسے پۀ تاويل کښې

هر يؤ کار دَ اسانتيـــــا پۀ روِش جوړ شي
رنځـــــوران دَ مسيحا پۀ روِش جوړ شي

چې خيام درته تعبير ښـــائي دا ډېر دے
دَ پُنبــې هــرې دانه کښې واړه خېر دے ①

وړومبۍ روژه
۱۷-۰۵-۲۰۱۸

① پونبه دانه يا بندانه : دَ مالوچو تخم



www.pukhto.net

# ( پنجره ، قفس )

دَ حِرصونــو دَ زنـــدان دَ اندېښنـي نه
نفْس دې مړ کړه چې ازاد شے دَ پنجرې نه ①

مصلحت دے پۀ تعبیر کښې ، زنداني شي
مُجرّد ته وَ قفس به ودانـــــي شي

کۀ پنجره دې وي پۀ سر چرته بازار کښې
یا پۀ لاس کښې دې نېولي وي پۀ لار کښې

اخیستل اؤ خرخـــول دا دَ جاګیر وي
یا حالات پۀ معاملاتو کښې ګمبیر وي ②

۱۴-۱۱-۲۰۱۷

① بند بگسل، باش ازاد ای پسر
چند باشـــي بند سیم و بند زر (مولانا روم)

② ګمبیر : ګنجلک ، پېچیده.



www.pukhto.net

# ( پودینه )

پهٔ اهونـو کښېږ لګړه دَ ژوند ګیا شي
بویه دا چې دَ سکون بـوټې دهنیا شي

دَ ښادۍ مېرمنه واخلي تش تـوقه شي
دَ حیات کـوهے بې آبه بې بــوقه شي

پهٔ افت کښې دَ جوبن ټټــو زینه شي
چې پهٔ کور کښې نو نهاله پودینه شي





www.pukhto.net

# ( پوزې )

(انډېرې ، بوريا ، حصير)

انډيري کښې رنګبندي دَ خپر ننبـان وي
دَ بهبـود طمع ئې څۀ دَ خپر باران وي

چې بې اصله انډېــرې وينـــې خروش کا
دَ بې اصلو سريکار دَ باد پۀ دوش کا

کۀ پوزې بونـــې دنده دَ لبافـــي کړه ①
زړۀ ځيګر پۀ مُشقّت به شګافـــي کړه

انډيري کښې شين بخن به ښۀ خبر وي
يـــۀ وزرې له پېلامه دَ ټبر وي ②

---

① لبافي : دَ رسو اؤ پړو کار کؤنکے ، حصير بافي -
② پېلامه : نخښه ، اشاره -

کټ پوزې چې ئې رانغښتې وې سفر کړه
نو څۀ هو بهو تعبير ورله تۀ ورکړه

۰۵-۰۵-۲۰۱۸





www.pukhto.net

# (پوزه)

دَ دي دَ پاره ؤګورئ
دويم ټوک
"مخ ۱۱۹"



www.pukhto.net

## ( پیریان )

زړۀ مې ډک دے شیـــاطینو ته لۀ ذمه
ډېر عالم وَ دوی خړوب کــړلو عالمه

خاص رګـونه دَ پېریـــانو رامعلوم شول
خصوصاً دَ ساحرانـــو چې مخدوم شول

پۀ هــر کور کښې دا خران واړه فساد کا
څۀ ارواح وي، څۀ مارِد شي څۀ همزاد کا

پۀ مخصوصو ایاتــونـو دَ ویشتو وي
اراده کۀ دَ پیـــري دې دَ ویستو وي

درســره کۀ پۀ بستـر څوک اودۀ کېږي
ثقالت کۀ دَ وجـــود ســره ملۀ کېږي





www.pukhto.net

پهٔ خوبونو کښې لتې ږدي پهٔ څو رنګه
کله مَس دَ خراباتـــــو هم بې درنګه

دوئي عقلونه پهٔ تعطيل کښې مُعطّل کا
ماشومانو ته خوبونـــو کښې راتلل کا

هـــر عالم چې ربّانـــي وي ورته وايه (١)
پهٔ دې فن کښې چې وي څوک دَ لوړې پايه

۰۶-۰۱-۲۰۱۸

(١) پهٔ خوبونو کښې پېريان راتلل دَ سِحر نخښه وي اؤ يا دَ شېطانانو وقتي مکر اؤ فرېب هم کېدے شي ، دَ داسې خوبونو تعبير نهٔ وي بلکې دَ دې تشخيص پکار وي. بايد دلته يؤ څو مهمې خبرې د سِحر به حواله ؤکړم. د سِحر تعريف عالمانو داسې کړے :

* سِحر هغه عمل دے چې پهٔ هغې سره شېطانانو اؤ خبيثو روحونو ته نزدې والے حاصلېږي اؤ بيا د هغوئ نه مدد غوښتل کېږي.
* سِحر د خپل حقيقت نه د يؤ شي نه بل شي ته اړؤلو ته وائي.
* عرب سِحر ته سِحر ځکه وائي چې دا صحت پهٔ مرض شره بدلوي.




www.pukhto.net

* پۀ المعجم الوسيط کښې دي چې دَ سحر بنياد باريک اؤ دقيق وي.
* صاحب دَ محيط المحيط وائي پۀ ښائېسته انداز سره دَ يؤ شي داسې پېش کول چې خلق ورته حېران شي سِحر دے .
* امام فخر الدين(ح) رازي وائي چې سِحر هر هغۀ ځيز پورې خاص دے چې دَ هغې سبب پټ وي اؤ دَ خپل حقيقت نه علاوه پۀ بل صورت کښې پېش کړې شي.

بحر حال سِحر د جادوګر اؤ شيطان پۀ مينځ کښې دَ يوې معاهدې نوم دے چې دَ هغې پۀ بنياد باندې جادوګر دَ شرکي اؤ حرامو کارونو ارتکاب کوي چې دَ هغې پۀ بدل کښې بيا شېطانان دَ جادوګر مدد کوي. سحر پۀ ډېرو طريقو سره کېـږي لکه جنتر ، منتر ، تنتر ،دَ بنګال جادو وغېره ..... دَ بنګال جادو پۀ بنګال کښې دَ "چټاګان" نومي کلي کښې واقع کـوهي کښې دَ يوې مخصوصې چلې نه پس زده کېږي دَ سحر ډېر قسمونه دي لکه :

* سحرِ تفريق (جدا والے پۀ مينځ د دوو کسانو خصوصاً ښځه خاوند)
* سحرِ تخيّل (تخيّل تړل يا مُعطّل کول)
* سحرِ جنون ( لېونتوب ، اؤتر کېدل ، ګډې وډې خبرې کؤل ، نسيان )
* سحرِ خمول ( سُستي ، تنهائي خوښول ، کار روزګار نۀ کؤل )
* سحرِ هواتف (غيبي آوازونه اورېدل، Hallucination، ګډوډ خوبونه لېدل)
* سحرِ المرض ( مرضونه ، چېچې راتلل ، دائمي مرض اؤ نۀ ښۀ کېدل)
* سحرِ تعطيل الزواج (د وادۀ نه بندؤل اؤ ناجائزه شهوت پرستي )
* سحرِ المُحبّه (دَ ناجائز مُحبت دَ پاره اؤ يا دَ چا دَ پاره لکه پۀ خاوند چې دَ ښځې ړندۀ تابعداري ؤکړي اؤ دَ حد نه تجاوز ؤکړي )
* سحرِ النزيف ( دا سِحر په ښځو کېږي ، دَ استحاضې سره تړلې ناروغي)

دا ټول اقسام سهي تشخيص اؤ معالج ته اړتيا لري ، دَ جادو علاج پۀ جادو کول نورې ستونـزې پېدا کوي اؤ شرعاً حرام دي . تر څو چې سهـــي تشخيص نۀ وي





www.pukhto.net

شوے تر هغې دَ جادو يا مرض مغلوب کؤل امکان نۀ لري. بايد مونږ د مُعتمد اؤ اصلي معالج انتخاب وُکړو اؤ دَ جعلي پيرانو نه ځان وُژغورو .....

څوک چې دَ سِحر نه انکار کوي نو دغه جاهلان پۀ اصل کښې د قـــرآن و سنّت نه انکارکوي البته دومره ده چې جادو بذاتِ خود چاته څۀ ضرر نۀ شي رسولے بلکې دَ الله پۀ امر پکښې تاثير راځي.

وَمَا هُم بِضَارِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللهِ
(سورة البقرة)



PUKHTO.NET
www.pukhto.net

# ( پېسې )

چې دَ چا سره پهٔ لاس کښې ښهٔ پېسه وي
دَ هغهٔ کـــــوټه سِکه هم بیا کره وي

څهٔ کارونه ئې ناسم وي چې ئې شمېري
کهٔ دینار وي کهٔ درهم وي چې ئې شمېري

کهٔ بندلې دَ نوټونـــو چـــرته شمار کا
دې پهٔ سختـــو ژپاړونـــونو خبردار کا

لباســـي معنو ته مهٔ ګـــوره قدرت دے
دَ "پېسو لباس" لباس نهٔ دے، افت دے





www.pukhto.net

ازمېښتـونه دَ معنـو کـړي پنجه ښخه
پهٔ بخشي باندې کړي خپله سينه يخه[1]

۲۳-۰۳-۲۰۱۸

(۱) بخشي : اکاؤنټنټ ، محاسب ـ
فَحَاسَبْنٰهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنٰهَا عَذَابًا نُكْرًا (سورة الطلاق)
نو مونږ د هغوی سره ډېر سخت حساب اوکړو او مونږ هغوی ته ډېر ناکاره عذاب ورکړو ـ



www.pukhto.net

# ( پیاز )

ښهٔ خبر پرې شي اُلجه مهال اندېښه
چې دَ پیاز غوټه شي چا وَته راپېښه

بدنامي وي یا زحمت دَ پرېشانۍ شي
حرام مال وي یا غیبت دَ پرېشانۍ شي

نهایت به ئې تعبیر دَ مراد خپل شي
چې دَ پیـازو یَشول اؤ سرهٔ کول شي

۰۶-۰۵-۲۰۱۸





www.pukhto.net

# ( پیاله )

دَ پیـــالۍ نه راچاپېره کۀ هجوم وي
نو پۀ شخړه کښې جرګه به ئې مفهوم وي

پۀ یوه پیــــالۍ کۀ خلق قتلِ عام کا
نو معنیٰ ئې کشــاله کښې دَ هنګام کا

چې پیالۍ سره شورېږي اؤ کړنګار کړه
نـــو زورَنه ئې دَ تسل پۀ اعتبار کړه

دَ مرګـــي غاښونه کېږدي پۀ سر داړه
پۀ پیاله کۀ دې لبان ایښي وي دواړه

کۀ پیـــاله ډکه لۀ عطرو چرته واؤړي
نـــو رمه ئې پۀ لېـــوۀ بهرته واؤړي


www.pukhto.net

دَ پیــــالۍ ښځل کۀ تاته شي اوښــاره
نــو دَ ژوند لۀ صفه اوځي کج رفتــاره

دَ شودو پیــاله رنګرېزه علامه وي
دَ شبګیــرو سحر خېزه پېلامه وي ①

ستا لۀ کربه ئي خلاصون وي اذيّته
چې پیالۀ ډکه تر ژیو شــي ، قسمته !

۰۹-۰۵-۲۰۱۸

① پېلامه: نخښه






www.pukhto.net

# ( پیشو )

دَ نرغوټ وحشت چې کله په قرار شي
دغه کال به دَ خوښۍ تُخم تیــــــار شي

په جـــــادو ئې دَ عزت لمنه چاک شي
دَ پیشو غوښه که چرته کښې خوراک شي

دَ فرېب ماشـــوړې سختې ګنجلک وي
یـــــــارانه کۀ دَ پیشو اؤ دَ منږک وي

دښمـــانان ئې دَ حسرت په خاورو رغړي
پیشوګان کۀ په زنځیر باندې څوک تړي

حېرانــــــــې ئې په تعبیر دَ ابتلا ده
کۀ پیشو درنه څۀ وړي وي نــو غلا ده

یا وي ښځه چاپلوسګـــره پهٔ جلب کښې (۱)
یا وي بده ، مکـــــرژنه پهٔ مطلب کښې

خدائې دې نهٔ کا چې زحمت دَ رنځ پهٔ لار شي
ناګهـــــــانه کهٔ دَ پيش چيچل اوڅار شي

دَ پيشو پهٔ سر کهٔ څوک وي چرته انخښتے (۲)
نو احمـق سړے پهٔ باز رانيسي چتے

دويمه روژه

۱۸-۰۵-۲۰۱۸

(۱) جينۍ بخيله مور دې مړه شه
چې پيشو ګرب کړي نو دا نيغه ناسته وينه (ټپه)
(۲) څوک چې دَ پيشو ګټلو دَ پاره محکمې ته ځي ، غوا بائيلي (چينائي متل)





www.pukhto.net

# (ت)



www.pukhto.net

## ( تابوت ) *

تعبيرونه مې درياب درومي پۀ يون کښې
کۀ تابوت دَ حکمتونو پۀ مضمون کښې

دَ افت لښکرې زوَرنده نګون شي①
چې تابوت لکه د ګنج چرته بېرون شي

پۀ تابوت پسې روان پۀ کجا زين کښې
مقّدر به دَ رندو وي پۀ ائين کښې

* کۀ تابوت دَ غليم اووينے خوبښ مۀ شه
نهايت به دغه لار دَ هـــر چا يون دے
( اشرف خان هجري )

① وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ آيَةَ مُلْكِهِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ التَّابُوتُ فِيهِ سَكِينَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ
اؤ دوی ته خپل نبي اووئيل بېشکه دَ دۀ دَ باچائي نخښه دا ده چې تاسو ته به صندوق راشي چې پۀ هغې کښې دَ رب لۀ طرفه سکينت يعنې دَ زړۀ ارام دے۔
( سورة البقرة )





www.pukhto.net

کهٔ تابوت چرته انبـار پهٔ ځنـــاور وي
دَ کاروان مهار پهٔ لاس کښې دَ سفر وي

پهٔ تابوت پسې روان کهٔ تر مدفن شي
پهٔ تقلید کښې فن پارې ټولې دفن شي

غنچه خلهٔ چې پهٔ تابوت کښې دَ حیات وي
علامه دَ نـــــــوموړي دَ وفات وي

دَ ګرانۍ تاویل ترې اوځي پهٔ ناتار کښې
چرته پروت کهٔ وي تابوت پهٔ یو بازار کښې

پهٔ تابوت کښې کهٔ جینـــۍ وي چرته بنده
نو ښـــادي به دَ وادهٔ شي ترې ځرګنده

پهٔ تابوت کښې بندیوان کهٔ څوک درون وي
اموخته پهٔ اندېښنو کښې دَ ګردون وي


www.pukhto.net

چې نۀ چغې، نۀ غوغا نۀ چاک ګرېوان وي
نۀ غمونه ، نۀ هموم وي ، نۀ ګریان وي

نو وقار ترې څرګنــــــدېږي دَ ثبوت نه
وړاندې وروستو کۀ هجوم وي لۀ تابوت نه

دریمه روژه
۲۰-۰۵-۲۰۱۸





www.pukhto.net

# (تاج)

تهٔ پهٔ مِهــــر خبـــــردار دَ حقیقت شهٔ
معنــوي تعبیر ئې واړه دَ خصلت شهٔ

دَ شاهانـــو پهٔ سر تاج جاه و جلال دے
دَ اولس تعبیر دَ خېر پهٔ استدلال دے

هندو سترے، صوفي غرق دَ خانقاه وي
چې غرور ورځخه مل وي نو تبــــاه وي

پنځمه روژه

۲۱-۰۵-۲۰۱۸







www.pukhto.net

# (تاخ)

پهٔ تاخونو کښې سمبال کهٔ حاکمان وي
نو تاخونه دَ خپل جنس سره محکوم

دَ قارون دَ خوب تعبير تحتُ الثرىٰ دے
عليّين شــي دَ موسىٰ بـــرخه مفهوم

پنځمه روژه

۲۱-۰۵-۲۰۱۸





www.pukhto.net

# (تارکول)

دست بردار لۀ معصیّته لۀ ګنــاه وي
کۀ لېدلې ئې تــارکول چرې سیاه وي

توّکُل شي دَ شینکـــي فصل راغونه
دَ محنت پۀ پر و بال دشتې ، باغونه

شپږمه روژه

۲۲-۰۵-۲۰۱۸



www.pukhto.net

# ( تال )

کۀ سجده ورته شاګرد پۀ هر یو تال شي *
دَ یـوې ماترې پۀ زده کـړه به ملال شي

چې پۀ غـاړه ئې ښـه جوړه ښزار ږدي
نو نامه پرې دَ " شکرې" موسیقار ږدي

دَ هـر تال نه درته جوړ به غوړندي کړي
دَ ماترو پۀ هر یؤ دُهن به دې بندي کړي

پۀ دا فن کښې چې سجدې دَ تعظیم مل شي
هله پوهه پۀ " تین تال" اؤ پۀ "چنچل" شي *

ما لیدلي استـــــاذان دَ زمانې دي
خو دَ دوی یاره څۀ بل شانې نخرې دي

---

* ماتره: Beat || تال: Rhythm || تین تال: دَ شپاړسو ماترو تال
چنچل: دَ څوارلسو ماترو تال





www.pukhto.net

عملونه ناپکـــــاره ئې فضول وي
چې صوفي په نڅاګانو کښې مشغول وي

چې سرشـــاره کېفیّت دَ خوشحالو وي
انتظـــار چې ئې دَ سترګو غزالو وي

منت بار دې په ښادۍ کښې دَ وصال شي
چې بې واکه په نڅا شي اؤ دهمال شي *

۲۰-۰۹-۲۰۱۹

* په هند کښې دَ ګجراتیانو ګډا ته دهمال وائي.

## ( تاله ، جندره )

دَ نفـــاق چـــړه کۀ ډېره هم شي پخه
خو دَ مينـــې محبت مرئ کـــړي غوټه

دَ ګــردون تـــولې تر بدو بدې چارې
چې دوۀ زړونه پۀ نفـاق شي ګارې وارې

پۀ تعبير کښې يار لۀ يار ځينې جُدا شي
چې تـــاله ئې پۀ خوبونو کښې تالا شي

کۀ دَ زړۀ تنبې وي پـــورته اؤ جندره وي[1]
پۀ ژوندون ئې دَ غفلت سره دنده وي

---

① أَفَلا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرآنَ أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا
ايا دوی پۀ قران کښې تدبّر نۀ کوي ، بلکې دَ دوئ زړونه ته خوتالې پرتې دي (سورة محمد)

دَ لرګـــــي تاله دوه مخي منافق وي
دَ مَړے کېدېِ عاشـــق به څۀ عاشـق وي *

کۀ دې کــور وَته تاله وي ده عروسه
اؤ مالونـــــو ته تاله وي دَ کنجوسه

کۀ پۀ غم کښې تالا ببرته شي معاش دے
"موټ متړ لوبيا چنه ده ، مهې ماش دے" ①

اوومه روژه

۲۳-۰۵-۲۰۱۸

* بو الهوس چې عاشقي کا عاشق نۀ دے
پۀ خالـــي هوس ئې مۀ بـــوله عاشق
(خوشحال خان بابا)

① موټ ، دَ ميو يا مهو دال ـ

# (تانبه ، پيتل)

حـــا سدين به ئې پۀ زړۀ باندې نتل کا
مشغولا چې دَ تانبـــې اؤ دَ پيتل کا

پـــرې ملال به شي دَ ډېرو دا ارواح
دَ حاسد ســـرې خطـره وي پۀ صلاح

چې کـــوټه سيکه، انه ويـــلي کوينه
يا اِنګر وي اؤ تـــانبه ويـــلي کوينه

دَ محنت غرۀ برېتـــونه ورته تاؤ شي
دم پۀ دم چې ئې دم ؤسوزي تيکاؤ شي

اتمه روژه

۲۴-۰۵-۲۰۱۸

# (تبخے ، تبۍ)

دَ تبخي اؤ تبۍ دَ پاره ؤګورئ
وړومبے ټوک تعبيرونه دَ انغري" مخ ۱۵۷ "چې
يؤ شان توضيع اؤ تشريح لري

اتمه روژه

۲۰۱۸-۰۵-۲٤

# ( تبر )

کۀ پۀ لاس کښې چرته تبر دَ لرګبان وي ①
دا سړے پۀ کشـــاله کښې تر میان وي

پښیمـــاني ، کم عقل توب دَ ناکَسـانو
کله کله  وي سریکــــــار دَ احمقــانو

دَ  منــزل  پۀ  لاره  سترګې دَ شعور وي
مُحسنـــــــــانو ته رڼا دَ کوهِ طور وي

دَ هغۀ سړي پۀ خوب کښې خســاره وي
کۀ زنګ شوے تــرېنه تبر بیچاره وي ②

---

① لرګبه : Wood cutter

② A broken or rusty axe indicates illness and loss of money and property.

**What's in a Dream?, (Published : 1901)**
**Gustavus Hindman Miller (1857–1929)**

کۀ پۀ تبر چــــرته پرې دَ زلفو تـــار کا
دَ فـــــــراق تبر پرې دم پۀ دم ګذار کا (۱)

یوولسمه روژه

۲۷-۰۵-۲۰۱۸

(۱) تعبیرِ خیام
بېلتون قصاب زۀ ئې حلال کړم
دَ غم پۀ تبر مې هډونه غوڅوینه (ټپه)

# ( تبه )

کفــاره ئې شي لۀ تبې نه دوځـــــاره
پۀ دردونو المونــو، لۀ ناتـــــاره

کۀ ئې تبه وي شپېـــره پۀ وجود کښې
نو ایمان ته شي خطره دَ اه پۀ دود کښې

دولسمه روژه

۲۸-۰۵-۲۰۱۸

# ( تخت )

دَ تخت دَ پاره وګورئ
دويم ټوک تعبيرونه دَ "بادشاه"
مخ ۵۲

# (تخنول)

تخڼول ، دغدغه

دَ فرېب لۀ شسته غشي پۀ تېزئ شي
څۀ کارونه خنډ و خار دَ ستيزئ شي ①

پابَسته مۀ شۀ معنو ته پۀ تعبير کښې ②
حرکت دې برکت شۀ پۀ تدبير کښې

۲۰۱۸-۱۱-۲۵

① ستيزه: جنګ جګړه۔

② پابَسته: بندي ، ګرفتار۔

## (ترَخ)

هوښیـــار اوسه دا همه واړه تګان وي
چې نیـــولي ئې ترخونـــو کښې بُتان وي

دَ نېستۍ دوري پـرتې ئې پهٔ دېوال وي
پهٔ ترخونـــو کښې بد بوئ دَ مال وبال وي

پهٔ دې خوب کښې دَ پوهانو نور کلام شته
ناخوښۍ ده ، دَ سر درد ، نزله زکام شته

دَ ترخونـــو لوئـي وېښتهٔ دَ زورَور وي
دَ سیرین[رح] پهٔ دې تعبیر دې خلق خبر وي[۱]

---

[۱] علامه ابنِ سیرین[رح]

دبدبه دَ غلیم ،بېخ وړي پهٔ سسپاره
ګویا باد تړي هم پهٔ څنډه ځـــي لهٔ ډاره

دَ انګڼ خاورې ئې وړانګې دَ نڅا شي
چې لاسونه پهٔ ترخونو کښې بیضا شي ①

درېویشتمه روژه

۲۰۱۸-۰۶-۰۸

① وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ آيَةً أُخْرَىٰ
اؤ خپل لاس پهٔ ترخ کښې ننه باسه ، حال دا چې تک سپین اؤ بې لهٔ عېبه به را اوځي ، پهٔ داسې حال کښې چې دا بله نخښه ده ۔ ( سورة طٰهٰ )

## (ترکاڼ)

دَ تــرکاڼ هنر ښکاره شي پهٔ شهکار کښې
دَ بلوط لرګے ، پهٔ شوه ، سپېدار کښې

صقلي ګر ئې پهٔ رنګونــو کښې پالش کا [1]
پهٔ رنده باندې تــــرکاڼ کۀ ئې لش پش کا

مُدعي طالب دَ پـــوهې دَ کان ور شي
چې کنجیانې ئې استاد له پهٔ لاس ور شي

اشــاره ترې را دوڅار دَ خود پسند شي
چې پلورل دَ کټ پــوزې چرته څرګند شي

---

(۱) صقلي ګر : ځلؤنکے ، پالش کؤنکے

کۀ فـــراخه دَ لرګینـو روشندان کړه
دَ غربت تتي شونتـــې به چراغان کړه

پۀ چوکاټ کښې دَ ارتینو تمثیل ګوره
حکمتــــونه پۀ دا باب دَ خلیل ګوره

یو کم دېرشمه روژه

۱٤-۰٦-۲۰۱۸

## (تزکیه د نفس)

دا پۀ څنګه اختراع باندې پاکېږي ؟
نۀ پۀ قول نۀ پۀ سماع باندې پاکېږي ①

په دامونو دَ تلبیس راځي اوهام ته
څۀ حلول ته ضرورت دَ عقل خام ته ②

① الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ
د بعضې خلقو د دې آیت نه دَ قوالی دَ جواز استنباط کول اختراع ګڼم.

صوفی پشمینه پوش حال مست
از شرابِ نغمه ي قوال مست
آتش از شعرِ عراقی در دلش
در نمی سازد بقرآن محفلش (اقبال)

② کله چې هغه دَ وحدت اؤ اتحاد دَ بدعت قائل شو نو خالق اؤ مخلوق، رب اؤ بنده ئې سره خپلو کښې دَ تصوف پۀ کنده پۀ یؤ بل کښې معدوم اؤ ورک کړه، هغه دَ وحدةُ الوجود دَ اسطـــوري عقیدې قائل وۀ کومه عقیده چې صوفیانو پۀ تورېمه اؤ رنده تراشلے وه.

هغه به وي چې رب پۀ خپل ذات ، صفات ، اسماء ، افعال ، ذهنـي افکار اؤ وجدان پۀ لحاظ سره پۀ هر څۀ کښې شتـون لري اؤ دا تمام موجود اؤ غېر موجود څېزونه دَ الله دَ ذات نه بيل نۀ دي بلکې هم دغه څيزونه بعينهٖ الله دے. تر دې پورې هغه دَ دې قائيل شو چې پۀ کاڼو کښې ،پۀ پېريانو کښې پۀ بتانو کښې، بلکې دَ انسان دَ ذهني وهم اؤ ګمـان پۀ کور کښې هم دَ الله مظهر شتون لري.

ابن فارض پۀ خپل کتاب" تائيه" کښې تر دې دمه رقم دراز شو چې د "محو" نه پس چې د "بېدارى" پۀ حالت کښې کله زما ذات هم زما پۀ ذات کښې حلول شۀ نو جلوه دَ الله راباندې ؤشوه اؤ بيا پۀ فخريه انداز ئې دا دعوه وکړه چې

ولا فلکَ الا من نور باطني
به ملکٌ يهدي الهدى بمشيئتي
( فلک زما دَ باطن پۀ نور اډانه دے ، اؤ هره فرېښته زما دَ حکم تابع ده )

پۀ بعضې صوفيانو چې حيواني جذبات اؤ شهواني خواهشات زور شُو نو هغوئ پۀ خپلو غزلونو اؤ قصيدو کښې دَ صنف نازک زمزمې شروع کړې اؤ صنفِ نازک لۀ ئې دَ رب مقام ورکړو اؤ هغوئ به دا دعوې کولې چې پۀ کُل کائنات کښې تمام حقائق اصلاً پۀ صنفِ نازک کښې مضمر دي.

دغسې دَ ابنِ عربي معبود پۀ خپل ذات اؤ صفات کښې دَ اضداد مجموعه وه. دَ ابنِ عربي رب موجود هم وۀ، معدوم هم وۀ، خلاق هم وۀ، مخلوق هم وۀ عبد هم وۀ، معبود هم وۀ، حقِ کريم هم وۀ، باطل لئيم هم وۀ، يؤ ابقري خيال هم وۀ، اؤ يؤ احماقانه فکر هم وۀ، يؤ ممکن الوجود هم وۀ اؤ يؤ ناممکن الوجود هم وۀ، يؤ الهامي رائي هم وه اؤ يؤ بې ربط اهنګ هم وۀ.

( دَ خپل کتاب "دَ تصوف انتقادي جاج" نه اقتباس )

خيام يوسفزے

پهٔ دې هر څهٔ تــوّدُد اؤ د کثرت کښې*
یؤ واحد ورته صادر شي پهٔ وحدت کښې

مُعترف ئې دَ وجــــود پهٔ ارتبــاط یم
اؤ منکــر ئې دَ ګډوال پهٔ اختــلاط یم

دَ صحت مدار چې واړه پهٔ صورت کړه
دَ جوګـــي ریاضت څهٔ لره منت کړه ؟

* دَ تودَد مثال :

پهٔ جومات کښې مې ؤنهٔ موند پهٔ مکه کښې رانه ورک شو
خدائې مې زړهٔ کښې راپېدا شو چې مې مخ دَ یار کړو ښکل
(غني خان)

* دَ کثرَت مثال :

ژوند حمزه واحد دے چې ظاهر دے پهٔ کثرت کښې
یؤ دے پکښې یؤ دے کهٔ کثرت دے دَ ژوندون
(حمزه بابا)

ائینه کۀ چرته پـــاکه پۀ تُشناب شي
نو پاکوالے ئې خفګي وي اؤ عتاب شي

تزکیه درته ښکاره ده پۀ قران کښې
پۀ شونتے پسې روان ئې چراغان کښې

تزکیه دَ نفس خوبونــو کښې شُهرت وي
یا مطیع به ئې دښمن پۀ خیریّت وي

۰۹-۰۷-۲۰۱۹

# ( تسبې )

مومي لال د شبستان پهٔ تاريکۍ کښې
کج قدم ئې وي رسا پهٔ باريکۍ کښې

پهٔ ائينه کښې دَ دلبر ځرک راپېښ شي
مجّرد پرې دَ هجران لهٔ خوابه ويښ شي

دَ غنمو څو دانــــو ته ئې اړتيا شي
دَ تسپو دَ ذم تعبير خيـــامه دا شي

جده

۲۰۱۸-۱۱-۲٦

# (تعویز)

اتشي ، خاکي ابي وي پهٔ نجوم کښې
دَ بادي تعويز بيل چال وي پهٔ رقوم کښې (۱)

کله "نِصفْ" اوْ "ترَقّع" وي پهٔ جَفر کښې
يا چـــــالونه دَ تعويز پهٔ "مؤخِر" کښې (۲)

استمـــــــداد دَ "اليقا" اوْ "مليقا" وي
ساحرانـــــو ته وَيـاد به "طَليقا" وي (۳)

(۱) د تعويزونو څلور قسمونه ، اتشي ، خاکي ، بادي اوْ ابي ۔
(۲) نِصفْ : دَ جفر پهٔ علم کښې دَ ابجدو پهٔ حساب کتاب کښې دَ يوْ حرف نِيم عدد اخيستلو ته نصف وائي ۔ترَقَع : دَ ابجدو پهٔ حساب کښې دَ يوْ حرف نه دَ وړاندې حرف عدد اخيستل ۔ مُؤخَر : پهٔ علمِ جفـر کښې دَ کُل حروفو نه دَ وړومبني اوْ دَ اخري حرفْ دَ اعداد انتخاب ته مؤخـر صدر وائي ۔
(۳) دَ پېريانو شېطانانو نومونه چې استمداد ترې غوښتې کېږي ۔

یا به سِحر دَ بنګال وي پۀ بنګال کښې
یۀ کوهے د طِلَسماتــو پۀ احوال کښې ①

دَ همزادو پۀ کالۀ کښې دَ یۀ روح نه
بعضې سِحر ته نسبت وي دَ"بدّوح" نه ②

دغې سِحر وده ؤکــړه تصّوف کښې
تر دې دمه دَ پیرانو دم اؤ چُف کښې

کۀ مُهم دَ سړي پرېوزي پۀ سختۍ کښې
فلیتو ته دې اور پورې شي تختۍ کښې ③

دَ پیرانـــو پۀ جُبه کښې دَ تادیب نه
امن غـــواړه دَ فتنې نه ، دَ تخریب نه

① پۀ بنګال کښې پۀ چټګان نومې کلي کښې واقع کوهے۔
② دَ سِحر پۀ دنیا کښې دَ یو عفریت نوم دے۔
③ فلیته یۀ خاص قسم تعویز۔

کۀ يۀ څوک دَ تعويزونـو کاروبار کا
پۀ غفلت کښې به خدائې ئې شرمسار کا

کوم تعويز کښې چې نومونه دَ الله وي
نو تعبير ئې سرلوړې وي اؤ بريا وي

۲۶-۰۷-۲۰۱۹

# ( تکبُّر ) (١)

لوئي ، کبر ، غرور

چې دَ کِبر پهٔ اورونو دې ډک زړهٔ شي
څهٔ امید د ے چې لهٔ زړهٔ نه توئ اوبهٔ شي؟

چې دَ کِبر اسباب ډېر لري پهٔ زړهٔ کښې
زر خشاک شي دَ غمونـــــو تنارهٔ کښې

۰۷-۰۷-۲۰۱۹

① وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِين ( سورة البقرة/٣٤)

* الله متکبّر نهٔ خوښوي.
إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُور (سورة لقمان/١٨)

* چاته پهٔ سپکه کتل دَ الله دَ عذاب باعث جوړېږي.
وَأَمَّا الَّذِينَ اسْتَنكَفُوا وَاسْتَكْبَرُوا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَاباً أَلِيماً (سورة نساء/١٧٣)

* قارون ، فرعون ، هامان مغروره وهٔ.

وَ قارُونَ وَ فِرْعَوْنَ وَ هامانَ وَ لَقَدْ جاءَهُمْ مُوسي بِالْبَيِّناتِ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْاَرْضِ وَ ما کانُوا سابِقينَ (سورة العنكبوت/٣٩)

* مُتکَبرين دَ کلمې نه انکار کوي.

إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ يَسْتَكْبِرُونَ (سورة الصافات/٣٥)

* مُتکَبرين چالباز وي.

اِسْتِكْبَاراً فِي الاَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ وَلاَ يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ (سورة فاطر٤٣)

* دَ الله دَ بندګانو سره تکبر کونکي به ذليل کېږي.

إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ (سورة غافر/٦٠)

* اين تکبر زهر قاتل وانکه هست
از می بر زهر شد آن کيج مست (مولانا روم)

پهٔ کومو مئيو اؤ شرابو چې (قارون) مست وهٔ دغه اصل کښې دَ تکَبُر دَ پيالې زهر وو.

# (تکبیر)

اللہُ اکبر

چې نعرې شي په مېدان کښې لۀ زبانه
تکبیرونه ناوکـــــــې ځي لۀ کمـانه

دَ امید ډیـــــوه ئې بله پۀ تِلي شي ①
لکه فتح پۀ کشمیر باندې ډهلي شي

۰۸-۰۷-۲۰۱۹

① تِلې : د ماچسو تلې

# ( تندر )

تندرونه چې ډزېږي اؤ پرقېږي
ګل دَ پښو لاندې پائمال شي اؤ چقېږي

افتــــونه دَ فلک رسا غورځېږي
تندرونه چې پهٔ سر دَ چا غورځېږي

عملونه پهٔ تفریط کښې چې کوتاه شي
داسې خوب خبردارې اؤ انتباه شي

تندرونه چې بسیــار وي پهٔ شدت کښې
نو غوغا ئې شي تر غوَږو پهٔ آفت کښې

مُسلّط پهٔ ملّتونـــو جابــران شي
دَ ځل ځول سره برېښناچې دَ اسمان شي

پهٔ کورونــو کهٔ بجلي را نــازلېږي
تسّلُط کښېږي دَ باغيانــو به دلېږي

اتشي برېښنا دَ غم بده بلا وي
دَ بې اوره برېښنـايۍ مُراد غوغا وي

# ( تنده )

چې اوبۀ وي ، سمندر وي يا تالاب وي
اباسيند وي يا درياب لکه خوش آب وي

چې عاجز ئې تنده غرے وي لۀ څښو نه
دَ اُميد غزال ئې ګېـــره شــي لۀ پښو نه

کۀ ئې تنـــــده پۀ خاطر بله دَ اور شي
دَ شهوت لينـــــدۀ کړه دَ آ پۀ لور شي

دَ هوس دروازه ببـــرته پۀ نکاح کړه
پۀ حلاله دې سېـرابه خپل ارواح کړه

بس غُبـــــــار لۀ مخه لرې دَ ګناه کړه
چې پۀ تنـــدې دې لتاړ دَ ژوند ګياه کړه

۱۰-۰۷-۲۰۱۹

# ( تندے )

دا چې غوټه پۀ تندي کښې دَ قسمت وي
نو تعبیر دَ دې افلاس وي اؤ غربت وي

تنده ماته شي دَ ښۀ بخت، پۀ تاثیر کښې
دَ ښائسته تندي اثر وي پۀ تعبیر کښې

# (تنزرے) ①

چې فکـرونه زين دَ حُسن پۀ سمند شي
نرګسي ستر ګې بيماري خود پسند شي ②

دا اطلاق ئې دَ پـــــوهانو پۀ نظر شي
دَ تنزرو چې پۀ روح باندې ګـــذر شي

① عربي : قَطَاة

② نارسيزم : ځان خوښی ، يو انسان چې پۀ ځان ډېر مئين وي ، پوهان ئې پۀ اړه وائي چې پۀ دا سې خلقو کښې دَ نارسيزم مېل موجود وي ، دَ نارسيزم اصطلاح دَ يونان دَ يوناني اساطيري قيصې نه اخيستل شوې ده چې مرکزي کېريکټر ئې نارسيوس وۀ .

**Narcissism** :
The term originated from Greek mythology, where the young Narcissus (was a hunter who was known for his beauty) fell in love with his own image reflected in a pool of water.

مُحبت ترې اشکاره دَ خپل حبیب شي
دا تعبیر به دَ عاشق اؤ د لبیب شي①

خود پسنده اؤ تُندخویه پۀ وار پرزي②
دَ حُباب نس پۀ سوزن اؤ خار پرزي

۱۲-۰۷-۲۰۱۹

① لبیب یعني عالم یا تقوىٰ دار .

② صحبتِ صالح ،ترا صالح کند
صحبتِ طالح ، ترا طالح کند

هم جنس با هم جنس کند پرواز
کبوتر با کبوتر ، باز با باز ( رومي )

قالَ النّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَیْنَمَا رَجُلٌ یَمْشِی فِی حُلَّةٍ تُعْجِبُهُ نَفْسُهُ مُرَجِّلٌ جُمَّتَهُ إِذْ خَسَفَ اللهُ بِهِ فَهْوَ یَتَجَلَّلُ إِلَی یَوْمِ الْقِیَامَةِ

پېغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي : چې یؤ ځل (مخکینیــو قومونو کښې) یؤ سړے پۀ خپلو ښـائسته جامو کښې روان وۀ ، خپل ځان ورته ښۀ ښکارېدو ، سر ئې ګومنځ کړې وۀ ، پۀ ناز ناز ئې قــــدمونه کېښودل چې ناڅاپي الله پۀ زمکه کښې ښخ کړو نو هغۀ به تر قیامته دغه شان پۀ ښکته روان وي . (متفق علیه)

# (تنور)

کوم یؤ تن چې بندوبست دَ خپل تنور کا
پۀ تنه به انتظـــــام دَ خپل اُمور کا

هـر یــؤ کارئې دَ اسباب شي باوري
پۀ تنور کښې چې وي نان ګول قمري

تر همه و ګویـــــائي تدبیر بالا دے
چې معیوبه تنور اووینې عیب دا دے

تۀ پۀ سترګــو ئې تعبیر اپوته ګوره
خاصیّت پۀ دې کښې مۀ غواړه لۀ اوره

۱۳-۰۷-۲۰۱۹

# (توبه)

کۀ پۀ خوب کښې شرمسار تۀ پۀ ګناه يې
يا تـــوبه اؤ استغفـــار وايې لګيا يې

خجالت کۀ ورســـره دَ خپل اعمـــال وي[١]
نو تعبير دَ دې بخښنه ، زوے يا مال وي

---

١ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ○ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ○ وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا -
نو اووېيل ما دوی ته، بخښنه ؤغواړۍ لۀ خپل رب څخه بېشکه هغۀ دے بخښونکے ○ را ؤ وروي به پۀ تاسو باران ډېر ورېدونکے ○ اؤ کومک به کوي ستاسو پۀ مالونو اؤ پۀ زامنو سره ، اؤ ؤبه ګرځوي ستـاسو دَ پـاره باغونه اؤ ؤبه ګرځوي ستاسو دَ پاره نهرونه - ( سورة نوح )

# (توتان)

دغه خوبښ ګڼه پۀ حال کښې لۀ احواله
دَ وسعت تعبير کـــوه صاحب کماله

يا پۀ سر ئې شۀ لاسونه مهربـــــانه
چې معنا ئې ده څيړنـــې ته حېرانه

١٤-٠٧-٢٠١٩

# (توتکرکي)

دَ دي دَ پاره ؤکورئ
وړومبے توک
" مخ ۵۱ "

# (تورات)

ستا دَ ول سيالي به نۀ وي پۀ دستار کښې
دَ زړۀ هيلي دې نغمې شۀ پۀ بهار کښې

چې لوستل شيرين زبـــانه دَ تورات کا
ربّـــــاني لښکرې فوځ دَ غرور مات کا

دَ جاهل نوبت چې راشــــــي دَ وئيلو
پۀ معنـــــو چې نۀ رسېږي پۀ لوستلو

پۀ باطله عقيده کښې راحصـــــار شي
خارجي دَ ګړنګونـــــــــو نه ګذار شي

۱۵-۰۷-۲۰۱۹

# ( تُوره )

دا چې تُـوره ئې تېرېــږي وګذار له
ګرندے وي پۀ هر کار کښې وَهر کار له

چې راکاږي خپله تُوره څوک پۀ تلۀ کښې
دَ غرور ملک ئې تالا ګنه پۀ پلۀ کښې ①

چې بې تېکه ، بې نیامه دَ ځان خواه ته
نو غالب پۀ کُل کارونو کښې بدخواه ته

چې پۀ څوکـو دَ تېرو تُـورو ګذار کا
فصاحت به ئې ملک فتح پۀ ګفتار کا

① پلۀ : دَ بدن اعصاب
② تېکه : غلاف

پهٔ کلام کښې نهٔ خوارهٔ عسل شکـرې
دَ زنګ شـوي پښي تُــــورې هيڅ خبرې

ماتې تُورې چې دوهٔ درې وي پهٔ نيام کښې
نو بس هومره طلاقـونه پهٔ کلام کښې

دَ ډالۍ تُـــــوره به څهٔ وي بشر خوار له
خو بس زلفـــې به ولول شي وَ خپل يار له ①

۱۹-۰۷-۲۰۱۹

① تُـــــوره چې تېرېږي خو ګذار لره کنه
زلفې چې ولول شي خو خپل يار لره کنه

( خوشحال بابا )

# ( تېل )

وارۀ لافې ئې خطا وي وار خطا شي
غوړې زلفې چې شانه دَ دلرُبا شي

چې بويونه تــرښه خېــژي دَ مشګنو
نو تعبير ئې دَ شهرت اوځي لۀ څنو

چې بد بويه روغن اوينــي زلفان کښې
نو اطلاق ئې پۀ فاسقې وي بيان کښې

لۀ مقداره چې زياتي شي پۀ وښتو کښې
نو تاويل دَ غم ترې اوځي پۀ ويستو کښې

۲۱-۰۷-۲۰۱۹

## (تیارهٔ)

دَ ګردون د کړلېچونــو پهٔ لملم کښې ①
دَ مُنصف ژبــه قلم ده پهٔ قلم کښې

پهٔ دُرمه کښې دَ حیلو خوږې نغمې دي
مُنحرفـــــه پکښې واړه عقیدې دي ②

دَ افـــراط اؤ د تفـــــریط الا بلا ده ③
دَ هوس ججوره ډکـــــه دَ هر چا ده

① ګردون : څرخ ، ګرداؤ / کړلېچ : کوږوالے ، سخت ، ګران /لملم : دوزخ
② مُنحرف : باغي ، دَ حق والي نه خراج ، مرتد -
تحریف لفظي هم کېدے شي اؤ معنوي هم ، عام طور لفظــي تحریف نهٔ واقع کېږي اؤ کهٔ دَ چا دَ لاسه لفظي تحریف وهٔ شي نو هغهٔ به جاهلل بللے کېږي.... دویم معنوي تحریف دے اؤ دا تحریف هــر څوک ، هــر څنګه د خپل مفاد دَ پاره کولے شي اؤ دَ تغیّرِ معنىٰ قائیل خلق ورله دَ تاویل نوم هم ورکوي -
③ افراط : زیاتوالے ، دَ تفریط ضد / تفریط : لږوالے ، غفلت -

پهٔ تېره تُــــوره سینه دَ تیارو چاک کړه
پهٔ صابون دَ توبې ښیري دَ تن پاک کړه

یا خو ځـــــان جانانه ؤباسه بهر ته
یا تیـــــارۀ لۀ ځانه ؤباسه بهر ته

۱۷-۰۸-۲۰۱۹

# (ټ)

## (ټاټ ، ترپال ، ټراټ)

ارادې چې د ګفتـــار سره سمون خوري
نـو ګفتـار هم دَ کردار سره سمون خوري

دَ انســــــان نه بد ګمــانه اعتماد شي
دو رنګي چې خوئ خصلت د ادم زاد شي

چې جامه ئې دَ ټاټـــونو ، دَ وړې شي
پهٔ نړې کښې سيـــالي ګر به د نړې شي

کهٔ ورکړې ورله چا ټاټـــونه ډېر وي
نو پهٔ سر باندې لاسونه ئې دَ خېر وي

۲۷-۰۸-۲۰۱۹

# ( ټال )

اعتقــاد پۀ عملونو کښې کوتاه وي
چې پاخۀ خلق پۀ ټال زانګي ګمراه وي [١]

اوازه به دَ ملګـــري مستي ماه وي
چې مستيانې دَ زلمي پۀ ټال هم راه وي

کۀ دَ شنډې پۀ رحمت باندې نګاه وي
نو بې باره دې پۀ خپل زيري اګاه وي

٢٣-٠٩-٢٠١٩

١ بوډۍ لۀ ټاله راخطا شوه
دَ سپين اوربل ګلان ئې پانې پانې شونه

# (ټپوس)

زغن، چیل

چې ټپوس دې پۀ شپیلي پسې روان وي
دبدبه به دې دَ زمکې پۀ اسمان وي

چې ټپوس دې کله والوځي د لاسه
نو سفر ترې پۀ معنیٰ کنبې را ؤباسه

۲۳-۰۹-۲۰۱۹

# ( تېتو )

خربانه چې دَ اسونو شهسوار شي *
ګيـــــدړان دَ ازمريو پهٔ قطار شي

کهٔ پهٔ اسپه ئې حملې چرته سګان کا *
نو پهٔ ښځه دې نظر ساتې تاوان کا

چې پهٔ داړو ئې تېتو چرته چيچل کا
د يـــارانو خيانت به ئې خجل کا

کهٔ تېتو وي سرقه شوے پهٔ مختوري *
دَ طلاق تېتـو دې ؤتړي پهٔ سيوري

کهٔ تېتو چرته پهٔ خاورو کښې رغړېږي
نو محنت پهٔ ثمـــره باندې مړېږي

* خربانه: دَ خرو ساتونکي/ سګان: سپي/ سرقه: پټ ، غلا

کۀ ئې اسپه پۀ خوبونو کښې شرير وي *
نو تېره ژبه دَ ښځې تېغ و تير وي

تر هغـــې به دا تتهو پۀ ابتلا وي
چې تر څو دَ ښځې دُبر دَ دۀ مُلا وي

۲۳-۰۹-۲۰۱۹

* شرير: شر کونکي
دَ مزيد تعبيرونه دَ پاره "اس" وړومبے ټوک وُګورئ.

# ( تماتر )

روميان

دَ امید بوټے چې زړۀ کښې چرته نال وي
نو پۀ خېر اؤ برکت باندې ينال وي *

پۀ مېچنه چې مېدۀ دَ ژوند معاش شي
سکينت شي اؤ سکون دَ اِنتعاش شي *

دَ روميانو کۀ پۀ تا باندې ګذار شي
نو ويشتونکے مهربانه ستانه ځار شي

اؤ کۀ تۀ پۀ تمــاتر باندې ګذار کړې
حريفان به دَ ژوند واړه شرمسار کړې

۲۵-۰۹-۲۰۱۹

* يَنال : ورکړه ، عطا / اِنتعاش : د کرب نه پس نشاط

# (ټوپۍ، پکول)

کۀ ټوپۍ ئې دَ خړلمې، دَ سنجاب وي
یا تورلمے کۀ پۀ ټنډه دَ جناب وي (۱)

نو اولس ته دَ حاکم نه حذر شته دے (۲)
اؤ صوفي ته پۀ ریاکښې خطر شته دے

چې دَ سیال ټوپۍ پۀ ټنډه دَ وړې وړې
نو دَ علم پۀ وجدان ډکه ببرې وړې

پۀ عظمت به دَ غټانو معتبر شي
چې دَ اوسپنې ټوپۍ چرته پۀ سر شي

(۱) خړلمے اؤ سنجاب ځناور دے چې دَ څرمنې نه ئې ټوپۍ جوړېږي. انګریزۍ کښې ورته Squirrel وائي اؤ تورلمي ته Beaver وائي عربي کښې تورلمي ته سمور وائي.

(۲) حذر: وېره، ډار.

چې دَ سرو زرو ټوپۍ پاس پۀ ابرو وي
دَ لُوئ چارو نه فائده ارو مرو وي

لۀ منصبه مُقرّره ؤغورځېږي
چې ټوپۍ ئې پاس لۀ سره ؤغورځېږي

پکولونه دَ کونړ کۀ دَ چترال وي
نو دَ سيال سره سيالي پۀ استدلال وي

دَ بېساک نه پرې راځه تر پشکاله*
چې مراد به دې عدم وي پکول پاله

۲۷-۰۹-۲۰۱۹

* سختې دَ ګرمۍ مياشتې ، بېساک ، جېټ ، هاړ اؤ پشکال .

## ( ټوپونه )

چې ټوپونه دَ همت کالي پټري شي
نو دَ ژوند کندو کپرو نه بري شي

چې ټوپونه پۀ اسمان کښې کهربا وي
نو دَ مکـــر اؤ فرېب نه مُبّرا وي (١)

دَ پرېوَتو نه چې ؤدانګي لپاسه
پۀ دانګلو شي غالب دَ کوزو پاسه

۲۸-۰۹-۲۰۱۹

(١) کهربا : برق/مُبّرا : بري، ازاد

# (ټـوخ)

شرمنده په خپلو کړو شۀ د اعمال
عيب دَ ټيز خو نۀ پټېږي په سعّال *

اخته شوي پۀ دا غم کۀ رعايا وي
نـو تعبير دَ زلزلې اؤ دَ وبا وي

۲۹-۰۹-۲۰۱۹

* سعّال : ټوخي

# مننه

دَ خوبونو اؤ تعبیرونو پهٔ دې مزل کښې زهٔ دَ خپلو ټولو
استاذانو، ملګرو ، کورنۍ اؤ خواخوږو ډاډ
مرسته اؤ مینه هیڅ کله نهٔ شم هېرولے۔

---

دَ عاطرؔ یوسفزي ،ډاکټر علي خېل دریاؔب اؤ مشتاق مجرؔوح
یوسفزي صاحبانو مننه چې دَ ډېرې پام لرنې لهٔ کبله ئې دا اوږده
مزلونه را لنډېږي۔

---

دَ فضل الرحمان شاهؔد ، قېصؔر افریدي ، طیبؔ خان ، پیر
قائلؔ اؤ اقبال شاکرؔ صاحبانو لیکونو ته پهٔ درانهٔ سترګه ګورم
اؤ دَ هغوی دَ رائې قدر کؤم ۔

---

دَ ایازؔ الله ترکزي مننه چې زما پهٔ عدم موجودګۍ کښې ئې دَ
چاپ دا کار ممکن کړو ۔

خیام یوسفزے

# سرچینې

## القران الكريم

تفاسير القران الكريم

## احاديث الرسول ص

صحيح البخاري/ صحيح مسلم

سنن الترمذي/ سنن النسائي/ سنن ابي داؤد/ سنن ابن ماجه

## مشكاة المصابيح

محمد بن عبد الله الخطيب العمري أبو عبد الله ولي الدين التبريزي رح

متوفي ...... ٧٤١ هـ

محقق ..... محمد ناصر الدين الالباني

ناشر ...... المكتب الاسلامي بيروت

كال .... ١٩٨٥م

## طبِ نبوي ص

ابن القيم الجوزية رح

٦٩١ ...... ٧٥١ هـ

## ماډرن طب

متفرقات

## منتَخَبُ الكلام في تفسير الاحلام

امام ابو بكر محمد بن سيرين البصري رح

تهذيب ... عبد المنير مهنّا

ناشر .... دار الفكر البناني بيروت

كال .... ١٩٩٠م

## تفسیر الاحلام

امام ابو بکر محمد بن سیرین البصري رح

۳۳ھ/۶۵۳م ...... ۱۱۰ھ/۷۲۹م

ناشر .... مکتبة حسن العصرية بيروت

کال .... ۲۰۱۰ م

---

## تفسیر الاحلام وتعطیره قدیمه وحدیثه

امام ابن سیرین رح او امام شیخ عبد الغني النابلسي رح

تحقیق .... سید ابراهیم رح

ناشر .... دار الحدیث القاهرة مصر

کال ....۱۴۲۳ھ/۲۰۰۳م

---

## الاشارات في علم العبارات

غرس الدین خلیل بن شاهین الظاهري رح

متوفي .... ۸۷۳ ھ

ناشر .... دار الکتب العلمية بيروت

کال .... ۱۹۹۳م

---

## تعطیر الانام في تعبیر المنام

شیخ عبد الغني ابن اسماعیل النابلسي رح

متوفي .... ۱۱۴۳ ھ

ناشر .... دار القلم العربي سوريا

کال .... ۲۰۰۴ م

---

## قصص الانبیاء

امام حافظ عماد الدین ابن کثیر رح

ناشر .... مکتبة بیت السلام ریاض

کال .... ۱۴۲۶ھ/۲۰۰۵م

---

## اطلسُ القران

دکتور شوقي ابو خلیل(رح)

ناشر .... مکتبة دار السلام، ریاض

کال .... ۱٤۲٤هـ

---

## المرتبةُ العُلیا في تعبیرِ الرّؤیا

امام محمد بن عبد الله بن راشد(رح)

متوفي ...... ۷۳٦هـ

ناشر .... مکتبة دار السلام، ریاض

کال .... ۱٤۳۳هـ

---

## البدرُ المُنیرُ في علمِ التَعبیر

شیخ شهابُ الدین ابن نعمه القرافي(رح)

غیر مطبوع احمد الثالث لائبرېري استنبول

---

## ټپه او ژوند

پروفیسر محمد نواز طائر

اشاعت .... ۲۰۱۲م

ناشر .... حکومتِ خیبر پښتونخوا

---

**What's in a Dream?**

Gustavus Hindman Miller

(1857–1929)

Published : 1901

---

**What's in your Dream?**

Www.dreammoods.com

Michael Vigo, USA

# اشاریات


اباسیند ........................ 141
اتفاق ........................ 82
ارتینه ........................ 68 73 75
اسپه ........................ 159
استغفار ........................ 146
اسمان ........................ 82 164
اشتعال ........................ 74
اعتقاد ........................ 59 157
افسون ........................ 83
اقلام ........................ 62
اندیښنې ........................ 74
انډېرې ........................ 92
انګر ........................ 117
اور ........................ 145
اولس ........................ 49 110 162
ایمان ........................ 121
آفت ........................ 91
بازار ........................ 90
بُتان ........................ 124
بجلي ........................ 140
بدفعلي ........................ 74
بریالتوب ........................ 51 65

بزرګي ........................ 74
بنديوان ........................ 108
بڼ ........................ 72
بې روزګاره ........................ 62
بېباک ........................ 163
پُل ........................ 87
پادري ........................ 49
پالش ........................ 126
پاڼېزه ........................ 61
پرهر ........................ 77
پړسېدل ........................ 50
پښتې ........................ 85
پښېماني ........................ 119
پشکال ........................ 163
پکول ........................ 163
پېسه ........................ 99
پېسې ........................ 99
پېشوا ........................ 49
پياز ........................ 101
پيتل ........................ 117
پير بابا ........................ 63
تالاب ........................ 141
تالا ........................ 115
تانبه ........................ 117
تاوان ........................ 67
تبر ........................ 119

ترکاڼ ........................ 126
تزکیه ........................ 130
تکبیرونه ........................ 138
تودّد ........................ 129
تورلمے ........................ 162
تورې ........................ 74 150
ټاټونه ........................ 156
ټپکې ........................ 66
ټګان ........................ 124
ټنله ........................ 162
توتان ........................ 72
جابران ........................ 139
جادو ........................ 62 104
جاګیر ........................ 90
جامه ........................ 156
جدائي ........................ 53 67 115
جوګي ........................ 129
جینۍ ........................ 108
چترال ........................ 163
چړې ........................ 77
چیچل ........................ 159
حاسد ........................ 117
حاکم ........................ 162
حاکمان ........................ 111
حرام ........................ 58
حریفان ........................ 161

حسرت .......................... 50
حلول .......................... 128
څناور .......................... 108
څټل .......................... 103
څرمنه .......................... 82
خارجي .......................... 149
خاوړې .......................... 159
خاوند .......................... 60
خپلوان .......................... 85
خربانه .......................... 159
خړلمے .......................... 162
خود پسند .......................... 126 144
د سر زخم .......................... 77
دبدبه .......................... 125 158
درهم .......................... 99
دروغژن .......................... 83
دښمن .......................... 79 104
دکان .......................... 75
دهمال .......................... 114
ديدن .......................... 76
دين .......................... 79
دينار .......................... 99
رجا .......................... 50
رسۍ .......................... 82
رشوت .......................... 83
رعايا .......................... 165

رنځوران ........................ 88
رنده ........................ 126
رنړا ........................ 119
روزګار ........................ 79
روشندان ........................ 127
روغن ........................ 152
روميان ........................ 161
رياضت ........................ 129
زخمونه ........................ 78
زکام ........................ 124
زلزلې ........................ 165
زلفې ........................ 120 151 152
زندان ........................ 59
زنګ ........................ 119 151
زهير ........................ 51
ژبه ........................ 160
ساګ ........................ 56
سامري ........................ 70
سترګې ........................ 76
سرلوړي ........................ 135
سفر ........................ 54 87 108 158
سګان ........................ 159
سکينت ........................ 161
سمندر ........................ 141
سوتلی ........................ 82
سياست ........................ 65

سیکه ........................ 117
سینګار ........................ 62
ښادي ........................ 63
ښځه ........................ 62 67 105 160 159
شاهان ........................ 68 73 110
شریر ........................ 160
شنلړه ........................ 157
شهرت ........................ 130 152
شهوت ........................ 141
شوده ........................ 103
شولې ........................ 73
صوفي ........................ 162
صېقل ........................ 55
طلاق ........................ 151 159
عاشق ........................ 144
عاشقي ........................ 78 116
عطر ........................ 102
عقیده ........................ 149
عېب ........................ 60
عیال ........................ 85
غربت ........................ 55 62 84 142
غرور ........................ 150
غفلت ........................ 135
غلا ........................ 104
غلیمان ........................ 79
غم ........................ 116 140 152

غمونه ........................ 56

غیبت ........................ 101

فاسقه ........................ 152

فراق ........................ 85 86

فرزند ........................ 60

فرېب ........................ 104 122 164

فصاحت ........................ 150

فصلونه ........................ 73

قارون ........................ 111

قاضي ........................ 75

قتل ........................ 102

قرضدار ........................ 77

قرضونه ........................ 83

ګراني ........................ 108

ګمراه ........................ 157

ګناه ........................ 112

ګیدړان ........................ 159

ږیره ........................ 82

کاروبار ........................ 67

کاغذ ........................ 62

کټ پوزې ........................ 126

کثرت ........................ 129

کجاوه ........................ 53

کلړه ........................ 54

کرب ........................ 103

کرونده ........................ 73

کړاؤ ........................... 71
کشاله ........................... 102
کفاره ........................... 121
کور ........................... 75
کونړ ........................... 163
لاسونه ........................... 125
لباس ........................... 82
لبان ........................... 102
لرګبان ........................... 119
لونډان ........................... 73
لؤ ........................... 74
لېونتوب ........................... 52
لېونے ........................... 51
مال ........................... 52 88 101 124 146
مالوچ ........................... 82
مالونه ........................... 116
مجرد ........................... 53
محنت ........................... 112 117 159
مخونه ........................... 55
مدفن ........................... 108
مذهب ........................... 79
مرام ........................... 51
مستغني ........................... 50
مشقت ........................... 92
معاش ........................... 73 75 77 85 87 161
مکر ........................... 66 164

ملت ........................... 69 139
منافق ........................... 116
منصب ........................... 162
موسیٰ ........................... 70 111
مېرمن ........................... 85 91
مېوه ........................... 61
نان ........................... 145
نڅا ........................... 114
نرغوټ ........................... 104
نزله ........................... 124
نفاق ........................... 115
نقصان ........................... 56
نلي ........................... 58
نوټونه ........................... 99
نوموړي ........................... 108
نوَ ........................... 77
نيام ........................... 151
هجوم ........................... 109
هڅې ........................... 51
هڅوکي ........................... 58
هلاکت ........................... 64
همت ........................... 51
وُنې ........................... 61
وادهٔ ........................... 108
وبا ........................... 165
وجود ........................... 50

وصال ........................... 114
وېره ............................. 65
وېښتهٔ ............................. 124
وينه ............................. 77
ياري ............................. 79

# ستاسو خوبونه

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

................................................................................................................................................

..........................................................................................................................

خیام یوسفزے

## ستاسو خوبونه

## ستاسو خوبونه

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..........................................................................................................................

..................................................................................................

خیام یوسفزے

# ستاسو خوبونه

## ستاسو خوبونه

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

.......................................................................................................................................

........................................................................................................

# ستاسو خوبونه

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

..................................................................................................................

.............................................................................................